# سپي خنګه مډالونه وګټل؟

(د طنزونو مجموعه)

لیکوال: عبدالنافع همت

۱۳۸۶ل کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کتاب پېژندنه

********************************************************

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | سپي ځنګه مډالونه وګټل؟ |
| لیکوال | : | عبدالنافع همت |
| خپرندوی | : | نارنج خپرندویه ټولنه- کندهار |
| د چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ټوکه |
| کمپوز او ډیزاین | : | سیف الرحمن کریمزی |
| د پښتۍ طرح | : | هژبر شینواری |
| د چاپ کال | : | ۱۳۸۶ل کال |
| بریښنالیک | : | anhimmat@gmail.com |


د دې کتاب د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ا هـ د ا ء :

دا کتاب هغو افغانانو ته اهداء کوم چي د قبیلوي گټو
پر ځای د ملي گټو په اړه فکر کوي.

عبدالنافع همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورودانی

له محترم پسرلي صاحب او جهاني صاحب څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې پر دې کتاب يې سريزې وليکلې. دغه ډول د هڅبر شينواري د احسان هم خورا ډېر پوروړی يم، چې په نيمه خوله يې زما وړانديز ومانه او په لنډ وخت کې يې د کتاب د پښتۍ طرح جوړه کړه. د دې تر څنګ د نارنج خپرندويه ټولنې مشر ښاغلي سيداحمد قانع هم وګڼلم، چې دا کتاب يې چاپ او دا دی د ده له برکته ستاسې تر ګوتو پورې دررسېږي.

ع، همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدصديق پسرلی

# دا اثر

کابو دوه زره کاله پخوا کوم عالم ويلي وو چې: "ادبي ليکنې بايد يا خوندورې او يا ګټورې وي". دغه خبره به ډېرو خلکو ورسره منلې وي، چې تر موږ پورې هم راورسېده او زما هم د غوره ليکنې لپاره دا شرطونه خوښ شول.

څرنګه چې ادبيات معنوي خوراکونه دي، لکه سابه او مېوې بايد يا سړي ته خوند ورکړي او يا ګټه ولري. ختکيو پر خلکو خپل خوند منلی دی، په ګټه او تاوان پسې يې څوک سر نه ګرځوي.

شلغم چې ډېر ګټور دي، پر بې خوندۍ او بدبويۍ سربېره په شوق خوړل کېږي، خو له تازه خرماوو او منو څخه هېڅوک مخ نه شي اړولای، ځکه چې هم ګټورې او هم خوندورې دي، نو ادبي ليکنې هم بايد دغه دواړه صفتونه ولري.

ما چې د محترم همت صاحب دا اثر ولوست، تر ډېره حده يې د منو او خرماوو په شان دواړه صفتونه لرل، ځکه يې ډېر ښه اثر ګڼم او هيله لرم چې خدای دي همت صاحب ته اوږد عمر او روغ صورت ور په برخه کړي، چې دغسې نور کامياب اثار هم وپنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالباري جهاني

# د عبدالنافع همت طنزونه

عبدالنافع همت له څه کم لسو کالو راهیسي پېژنم؛ لیکـوال او ژورنالسـت دی. فکر کوم د ده داسي خوښه ده، چي د خپل ژوند زیـاتره برخـه طنــز لیکلـو تـه ورکړي. که یې رښتیا هم دا فیصله کړې وي، نو زه وایم چي دا یې ښه تصـمیم نیولی دی. همت صاحب په عادي مجلسونو کي هم له طنز ویلو سره مینه لري او ښایي دغه علت وي، چي مجلس یې ډېر خوږ دی او پر چا نه غمېږي.

د پښتو ادب هره برخه، په تېره بیا نثر، ډرامې، ترجمې او تحقیقاتي نثرونه ټول ډېر زیات کار غواړي. په دې لړ کي د طنز برخه، چي د یوې ژبــي پــه اصـطلاح مالګه ده، ډېر خواره لیدل کېږي او سړی ویلای سي چي ډېره لږه توجـه ورتـه سوې ده. دا چي همت صاحب لېڅې راغړلي او دې خوا ته یې مخه کړې ده، زما په عقیده ډېر نېک کار دی او تر هغه ځایه چي ما یې طنزونه لوستي دي، نو تـر عهدې یې هم ښه وتلی دی. زه یقین لرم چــي همــت صـاحب بــه د ترکیــې د مشهور او محبوب لیکوال عزیز نسین طنزونه لوستي وي، ځکه چي ماته یې په طنزونو کي د هغه د طنزیه داستانانو یو څرک رامعلومېږي. پــه هــر صـورت، دا خبره لا ښایي ډېره مهمه نه وي، خبره پــه خپلــه د همــت صـاحب د سـبک او افادې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طنزونو وظیفه یوازې د خلکو خندول نه دي، بلکې د ټوکو په لهجه یا په غیرجدي لهجه ترخو حقایقو ته د خلکو متوجه کول دي. کله- کله خو عادي، جدي، سیاسي مضامین او مقالې او حتی له اوره ډکې ویناوې هم د طنزونو په څېر تاثیر نه سي ښندلای. طنز د انتقاد کولو ډېر خوږ او په زړه پوري شکل دی او دغه علت دی چې حتی پر هغو کسانو، چې د انتقاد ګوته ورته نیوله کېږي، هم ډېر بد نه لګېږي او کله- کله یې ښایي خپلو اشتباهاتو ته متوجه کړي. د طنزو په ژبه داسې اجتماعي ستونزو او نیمګړتیاوو ته اشاره کېږي، چې که په جدي شکل ولیکل سي او یا وویل سي، نو ښایي د طنزونو په اندازه اغېزه ونه لري. همت صاحب په خپلو لیکنو کې د یوه ښه طنز لیکونکي په حیث هم ښه موضوعات انتخاب کړي او هم یې د ښې زړورتیا څخه کار اخیستی دی.

"تولسي په ارګ کې" یې داسې طنزیه داستان دی، چې د جمهور رئیس پر شا و خوا راټولو سویو غوړه مالانو او نالایقو کسانو ته د سړي توجه وراوړي.

په دې طنز کې د ارګ په مجلس کې د تولسي ډرامې په باب بحث دونه زور اخلي، چې اصلي موضوع، چې له پاکستان سره د افغانستان اړیکې دي، په ارګ کې د راغونډو سویو وزیرانو له یاده وزي. په لومړي سر کې وزیران داسې فکر کوي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر ښایي د ټوکو لپاره د تولسي ډرامې خبره راپورته کړې وي، خو وروسته متوجه کېږي چې هغه جدي دی او بیا وروسته خپله جمهور رئیس هم په دې بحث کې برخه ورسره اخلي او د پاکستان د مداخلې خبره د ټولو له یاده وزي. په زړه پوري خبره دا ده چې همت صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله هم ګواکي تولسي ډرامه په ډېر غور کتلې او د ډرامې د ټولو کرکټرونــو له خصوصيانو او هدفونو سره بلد دی. دی له دې ډرامې سره بلد دی، ځکــه نــو کولای سي چي په طنزيه ليکنه کي کار ورڅخه واخلي.

" د ډيانا مجسمه " په نوم طنزيه ليکنه کي په ډېر مهارت دا ښيي چــي افغانــان څرنګه په يوه او بل چل له خپل هيواد څخه وتلو ته مخــه کــوي، لــه څــه ډول چلونو څخه کار اخلي او کله چي يې کار تقريباً پای ته رسېږي، نو ګــوري چــي بخت ياري نه ورسره کوي او هغه طالبان، چي مهاجر افغان غوښتل د هغوی له ظلمه سياسي پناه واخلي او ځان د بريټانيې مقامــاتو تــه مجســمه جــوړوونکی معرفي کړي او د هغوی د توجه د جلبولو لپاره د ډيانــا مجســمه ورتــه وړانــدي کوي، سقوط کوي او پر ده باندي له خپــل وطــن څخــه د مهــاجر کېــدو پلمــه درېږي.

دغه راز يې په هر طنز کي يو ښه مطلب ته ځای ورکړی دی او ټول طنزونه يې په څو ځله لوستلو ارزي. څرنګه چي زه خپله پر طنــز بانــدي د ډېــري ليکنــي صلاحيت نه لرم او يوازي د طنز مينه وال يم، نو خپلــي خبــري دلتــه پــای تــه رسوم او تاسي لوستونکي د دې طنزونو لوستلو ته رابولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډيانا مجسمه

کله چې مي په اسلام اباد کي د انګلستان د سفارت مخ ته په څوړند شوي لیست کي خپل نوم ولید، نو که رښتیا ووایم، له ډېري خوشالیه په کالیو کي نه ځایېدم. ما ویل یاره جباریه لکه چې له خیره سره جبار خان شوې ! ځکه چې په دې لیستې کي د یو څو نوم دا مانا درلوده چې ګواکي غوښتنلیک یې منل شوی او د مرکې لپاره غوره شوی دی.

د سفارت مخ ته خورا ګڼه ګوڼه وه. خلک پر هغه کوچنۍ غرفه، چې غوښتنلیکونه یې ټولول، داسي راټول شوي وو، لکه پر غوړ هډوکي چې سور کي مېږیان راټول شوي وي. خلکو په بېلابېلو نومونو غوښتل ځانونه انګلستان ته ورسوي. څو به درواغ او څو به رښتیا پلمه کول. هغه مهال په افغانستان کي د طالبانو حکومت و، د لوبډیځوالو او طالبانو تر منځ تور دېګ تېر شوی و، په طالبانو پوري چې دې هر ډول تور تړلای، نو د لوبډیځوالو زړه ته لوېدل. په دغه وخت کي دومره افغانان بهرنیو هېوادونو ته ولاړل چې د روسانو په وخت کي به هم نه وي تللي. نور یې څه کوې بس تیاره لنګه غوا وه. یوه سړي ویل: "زه پخوا سندرغاړی وم، اوس طالبانو په افغانستان کي موسیقي بنده کړې ده، همدا زما د روزۍ وسیله وه، بل کار زما نه دی زده؛ مجبوره یم چې په ډوډۍ پسي له هېواده ووځم". یوې ښځي بیا ویل: "ما په افغانستان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارايشگاه (سينگارتون) درلود، اوس طالبان ښځي ښځي لـه کـوره دباندي نـه پرېږدي". ځينو به بيا خپل پخواني وظيفوي او ګوندي کارډونه لـه ځـان سـره رااخيستي ول او ويل به يې: "زه په پخواني حکومت کي لوړپوړی چارواکی وم، اوس مي طالبان وژني". د سفارت يوه چارواکي په لوډسپيکر کي وويل: "هغـه خلک چي سياسي پناه غواړي د (A) د غرفې په ليکه کي دي ودرېږي او هغـه خلک چي خپلو خپلوانو غوښتي وي د (B) د غرفـې ليکـي تـه دي ورشـي. يوسپين ږيری سړی، چي په غوړو لږ دروند و، له يوه ځوان څخه پوښـتـه وکـړه چي دا يې څه وويل؟ هغه د A او B د ليکو خبره ورته وکـړه. د سـپين ږيـري وروځي راوځړېدې او په ډېر غږ يې وويل: "مه ديگه نه مـی فهمـم، مقصـد مـرا ازيجا زود ببره که ايجه مخفی هستم". حقيقت دا و چي په دې ځـای کـي تـر رښتيا درواغو ښه بازار درلود. خو په دې شرط چي نوي او رښتياډوله درواغ وای او په دې ډول درواغو کي خو زه هم تر هيچا پاته نه وم. داسي نوي نـزي درواغ مي ورته وويل چي تر اوسه د هيچا ورته پام نه و. په خپل غوښتنليک کي مـي داسي ورته وليکل: "زه پخوا مجسمه جوړوونکی وم، اوس نه يوازي دا چـي لـه خو کالو راهيسي بېکاره گرځم، بلکي د طالبانو يوې محکمې زما په اړه د اعـدام فتوا صادره کړې ده. دوی پر ما دا تور لګوي چي زه بت جوړوونکی يم او خلـک بت پالني ته رابولم، پنځه مياشتي کېږي چي په پاکستان کي پټ اوسېږم، کـه په لاس ورشم، نو يو ساعت مي هم ژوندی نه پرېږدي".

دا چي طالبانو د باميانو مجسې تازه ماتي کړي وې، نو دې کـار زمـا چـړې تـه لاستی ورکړ او زما درواغ يې نورهم رښتيا ته نژدې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې د انټر ويو (مرکې) وخت راورسېده او د مرکې کوټې ته ورغلم، نو د سفارت يوه چارواکي زما غوښتنليک راپورته کړ او بيا يې زما څخه وپوښتل: څو کاله کېږي چې مجسمې جوړوې؟

ــ ياره صاحب يو شل کاله به کېږي.

ــ ايا داسي ثبوت وړاندي کولای شې، چې ته رښتيا مجسمه جوړوونکی يې؟

دا يوه داسي پوښتنه وه چې ما پر اسمان غوښته او خدای پر ځمکــه راکــړه. ژر مي د مېرمن ډيانا هغه مجسمه له کڅوړي راوايسته چې يوه اوونۍ مخکي مــي په اسلام اباد کي په لس زره روپيو په يوه تکړه مجسمه جوړوونکي جوړه کــړې او په انګليسي ژبه مي خپل نوم پر ليکلی و. د سفارت مامور چې مجسمه وليده، نو خوله يې ويړه کړه او داسي خوشاله شو، لکه کومه ورکه چې يې موندلې وي. مجسمه يې په لاس کي واړوله- راواړوله او بيا يې پر خپل مېز کښېښووله. تر يو څو لنډو پوښتنو- ګرووېږنو وروسته يې راته وويل چې بس ســتا مرکــه خلاصــه شوه، موږ به د نتيجې لپاره ستاسي پر ټاکلې پته خبر درکړو.

ما هم له ډېري خوشاليه مجسمه نوموړي سفارت کار ته په تحفه کي ورکــړه او له سفارته راووتم. ځينو دوستانو مي ډېر تعجب وکړ چې ځنګــه ســتا مرکــې دومره لږ وخت ونيو ! زموږ خو پښې تڼاکي شوې چې له څو مياشــتو راهيســي سفارت ته منډي راوهو، خو ما دا راز، چې ځان مي د مجسمه جوړوونکي په نوم معرفي کړی و، له خپلو دوستانو څخه پټ کړ. يــوازي مــي خپــل يــوه انــډيوال زمري ته چې ما يې پته د سفارت په فورمو کي ليکلې وه، دغه خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سهار زموږ د کور ور وټکېده. کله چې مي ور خلاص کړ، نو زما انډيوال زمری و، د کاغذونو يو پاکټ يې راکړ او په خندا يې راته وويل: "انډيواله! مبارک دي شه، د انګلستان کار دي سم شو، خو ګوره پام دي وي چې شېريني هم درباندي واوښته". پاکټ چې مي خلاص کړ، نو د انګلستان د سفارت دوه درې مکتوبونه په کښې ول، چې ټول په انګليسي ژبه ليکل شوي ول. زما بيا دا خواري په پيڅکه ده چې غم لړلې انګليسي ژبه مي نه ده زده، خو خير ما ويل د څه لپاره يې لولې، خبره خلاصه ده.

اوس نو وخت ډېر لږ و، ما بايد د کور ټول سامانونه پلورلي وای، ځکه چې له ځان سره مي انګلستان ته نه شوای وړلای. دوې الماری، د اشپزخانې سامان او ځيني نور داسي سامانونه چې چندان بيه يې نه درلوده، د خپل ورور کره مي ولېږل. زوی مي د کباړ دوکاندار ته ولېږه، چې راشي او زه د کور پاته سامان ورباندي وپلورم. يو ساعت لا نه و تېر شوی چې د کباړ دوکاندار راورسېده.

څلور غالۍ، يو يخچال، يو رنګه ټلوېزيون، يوه ويډيو، څلور بکسونه او داسي نور هغه سامانونه، چې په خرڅولو ارزېدل، پر دکاندار مي يو ځايي په ټيټه بيه وپلورل. زوی ته مي وويل چې ولاړ شي د کور خاوند راولي، چې زه د کور د کرايې، بر ښنا، ګيس، اوبو او ټيليفون حساب- کتاب ورسره خلاص کړم. موږ لا په همدې خبرو بوخت وو چې زما ورارہ، جميل راغی ويل، کاکا خدای دي يې خير کړي، څه خبره ده چې کډه دي ټوله کړې ده؟ ما ويل هو بچيه خيريت دی، موږ له خيره سره انګلستان ته ځو، که خدای کول لږ وخت وروسته به تا هم انګلستان ته راوغواړم. موږ ته هم دا نن د سفارت له خوا خبر راغی. ته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګلیسي ژبه پوهېږي، ها واخله دا دی دا د سفارت کاغذونه ولوله ! وراره چي مي د کاغذونو پاکټ خلاص کړ، نو یو وار کټ کټ په خندا شو، ویل کاکا دلته خو یې بل څه لیکلي دي.

د دې خبري په اورېدو مي زړه تر تلو ولوېده، د غړیو شومه مي وخته، ما ویل خدایه فضل وکړې، لکه چي د درواغو سیالي مي بایلوله، وراره ته مي وویل چي ته یې راته ولوله چي څه یې لیکلي دي؟ هغه وویل:

دلته یې داسي لیکلي دي :"ښاغلې جبار صاحب ! په ډېري خوښۍ خبر درکوو، چي د طالبانو هغه رژیم رانسکور شو، چي ستاسي او ستاسي په شان د زرګونو افغانانو ژوند یې تریخ کړی و. اوس به افغانستان ته بشپړه سوله او ډیموکراسي راځي، تاسي کولای شئ چي په ډاډه زړه افغانستان ته ستانه شئ او د پخوا په شان خپل د مجسمې جوړولو کار ته دوام ورکړئ، هیله ده چي نېکمرغه ژوند ولرئ !".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پېریانو شرط

شینکۍ به تل پېریانو نیوله. کله چې به پر هغې دغسې حمله راغله، نو پر ځمکه به اوږده وغځېده، تر خولې به یې ځګونه راغلل، پښې او لاسونه به یې کاږه شول او کله- کله خو به یې ګډې وډې خبرې هم کولې. خلکو به ویل چې دا د هغې خپلې خبرې نه، بلکې د هغې د پېریانو خبرې دي. پېریانو به کله ویل چې موږ مسلمانان یو او کله به یې ویل چې کافران یو، همدا اوس د قاف له غره څخه راغلو او کله به یې نورې خبرې کولې.

د شینکۍ د خبرو پر مهال به د شینکۍ د شا و خوا کورونو ښځې راټولې شوې او هرې یوې به د خپلو ستونزو په باب پوښتنې ځنې کولې. په دې کې به د ناروغانو، ورکو خپلوانو، ورکو شیانو او داسې نورو په اړه پوښتنې کېدې، خو د شینکۍ مور به بیا داسې ویل: "اې ظالمانو ! تاسې زما لور ولې ځوروئ؟ له خدایه نه ډارېږئ؟ اخر تاسې له موږ بېچاره ګانو څه غواړئ؟".

پېریانو به کله ویل چې سره غواړو، یانې یو شی حلال کړئ او کله به یې بیا نور څه ویل. د شینکۍ مور به په وار- وار یو چرګ حلال کړ او د پېریانو لپاره به یې همداسې روغ- رمټ بام ته وغورځاوه، خو په دې خیراتونو هم د شینکۍ ناروغي ښه نه شوه.

شینکۍ یې مور پر ډېرو زیارتونو، پیرانو، تعویذګرو او ډاکټرانو وګرځوله، خو هیڅ ګټه یې ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ تر بلي ناروغه کېده او رنګ يې لکه ژيړ زعفران داسي واوښت. مور يې نه پوهېده چي شينکۍ څه ډول ناروغي لري؟

يوه ورځ چي شينکۍ پېريانو نيولې او د پخوا په پرتله يې ډېره په تکليف کړې وه، مور بېچاره ګۍ يې سخته وارخطا شوه او د پخوا په شان يې وويل: "ای ظالمانو ! ولي نه راته واياست چي تاسي له موږ بېچاره ګانو څه غواړئ؟"

پېريانو ويل چي که تاسي زموږ يو شرط ومنئ، نو زموږ دي د سليمان(ع) په ګوتمۍ قسم وي، چي بيا به په ټول ژوند کي شينکۍ ونه څوروو.

د شينکۍ مور، چي د خپلي لور ناروغۍ ډېره ځورولې وه، خوشاله شوه. ويل ستاسي هر شرط پر غبر ګو سترګو منو. دغه يو د سرو زرو وښی چي زما د مور د لاس نښه ده او ما خپلي مړور ته ساتلی دی، سمدلاسه يې خرڅوم، خو مقصد چي زما لورکۍ جوړه شي. وواياست څه ډول شرط لرئ؟ پېريانو وويل: "شينکۍ، ستاسي ګاونډي جانان ته ورکړئ او که مو بل چا ته ورکړه، نو موږ به نه هغه هلک او نه شينکۍ ژوندۍ پرېږدو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تولسي په ارګ کي

د وزیرانو دا بېړنۍ غونډه د افغانستان په جنوبي ولایتونو کي د ناامنیو پـه بـاب وه، چي د ځینو لویو ولایتونو والیان، لوی رئیسان او ځیني سـفیران هـم ورتـه رابلل شوي ول. که څه هم ولسمشر د اوږده مېز سر ته ناست و او د غونډې ټول برخه وال يې ښه په اسانۍ لیدای شوای، خو بیا هم د مېز ټولـو څنـډو تـه يــې داسي په ځیر - ځیر کتل، لکه حاضر او غیرحاضر چــي معلومــوي. د ولسمشـر تندی له ګونځو ډک و، غاړي يې تازه کړې او په خپلو خبرو يې داسي پیل وکړ: "تاسي ته معلومه ده چي د افغانستان په جنوبي ولایتونو کي امنیتــي وضـعیت ورځ په ورځ مخ پر خرابېدو دی او دا هم د لمر په شان سپینه خبـره ده چــي د دې ټولو ناامنیو تر شا د پاکستان لاس دی. د پاکستان ولسمشر جنرال مشرف ډېر دوه مخی سړی دی، پر یوه سر د تراهګرۍ ضد مبارزې کي ځان زموږ سره د نړیوالې ټولني غړی بولي او له بلي خوا افغانان د شا له خوا په چاړه وهي او پټ د طالبانو ملاتړ کوي. له دې خبري سره سم د ولسمشر ستونی وچ شو او د اوبو ګیلاس يې پر سر پورته کړ. د اطلاعـاتو او فرهنـګ وزیـر لــه دې موقـع څخـه استفاده وکړه، په یوه لاس کي يې خپلي ژېړرنګه ډبریني تسبېح اړولې او په بل لاس يې خپلي عینکي د پزي خـوا تـه راښـویولې، سـوکه وویـل: بلــې جنـاب صاحب ! تاسي ډېره پر ځای خبره کـوئ. جنـرال مشـرف کـټ مـټ د (پایـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملهوترا) رول لوبوي. پر يوه سر ځان د تولسي خواخوږې اوخپښنه ګڼي او پر بل سر د تولسي زوی "ګاتم" د هغې پر ضد پاروي.

د دې خبرې په اورېدو د غونډې ټولو برخه والو ته خندا ورغله، خو خپلې خنداوې يې پټې کړې. يو وزير، چې د اوبو بوتل يې په لاس کې و، ډېر په زوره پوخ وهل چې د ټولو وزيرانو ورپام شو. نوموړي وزير د دې لپاره چې ځان داسې وښيي، چې ګواکې اوبه يې په سره غاړه کې ولاړې، مخ شا ته واړاوه او له ځان سره يې پټ پټ خندل. دا چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزير ليري د مېز په مخامخ سر کې ناست و او له بلې خوا ولسمشر د اوبو په څښلو لګيا و، نو دغه خبرې او خنداوې يې سمې وانه ورېدې او ورپسې زياته يې کړه: اوس په جنوبي ولايتونو کې د ښار دباندې د دولت واک چندان نشته. که دغه حالت همداسې دوام ومومي، نو اخر به موږ دې ته اړ شو چې له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښېنو. ځکه موږ وليدل چې له زوره څه جوړ نه شول. زما په فکر موږ ته همدا يوه لار راپاته ده، بله هيڅ لار نه لرو. خو که له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښېنو، نو له نړيوالې ټولنې او په دولت کې له ځينو دوستانو سره به څه کوو؟ او که دا کار ونه کړو، نو طالبان ورځ په ورځ پياوړي کېږي، اوس زه حيران يم چې څه وکړم؟ ولسمشر په دې وخت کې خپل يوه او بيا بل مرستيال ته په داسې ډول وکتل، لکه له هغوی څخه چې د نظر ويلو غوښتنه کوي، خو هغوی يو بل ته له مانا ډک کتلو وروسته بيا هم څه ونه ويل. په دې وخت کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزير بيا غاړې تازه کړې او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترم رئيس صاحب ! زه ستاسي مجبوريت احساسوم. (مير) هم ستاسي پــه شان مجبور او په دوه لاري کي ولاړ دی. که (منديرا) ته نژدې کېږي، نو تولسي يې له لاسه وزي او که د پخوا په شان تولسي ته زړه ورنژدې کوي، نو" منــديرا" يې پر ارامه نه پرېږدي. اوس دې مسئلې يو داسي حالت رامنځته کړی چــي د (ويراني) کورنۍ يو يو غړی، لکه د جنوبي ولايتونو ولسوالۍ چي زموږ لــه واکــه وزي، پر مير بې باوره کېږي، ان دا چي اوس د مير انا ياني (با) چي تر دې مهاله مير ډېر ورباندي ګران و، پر هغه بدګومانه شوې ده. زه فکر کوم چي په ويرانــي کورنۍ کي د (با) خپګان دومره مهم دی، لکــه پــه افغانســتان کــي د کنــدهار ولايت امنيت.

په دې وخت کي بيا د غونډې برخه والو په خندا او بنهاري پيل وکړ. خو دا چي د ولسمشر تندی هماغسي تريو و، نو ډېر ژر بېرته غلي کښېناستل. د غونډې تر دې ځايه ولسمشر داسي فکر کاوه چي د اطلاعاتو او فرهنګ وزير له بل چا سره خبري کوي، خو وروسته چي يې پام شو، هغه د ده خوا ته ګوري، نو په لــوړ اواز يې وويل: ډاکټر صاحب تاسي د چا خبره کوئ، زه خو هيڅ پوه نه شوم؟

په دې وخت کي ټولو په خندا پيل وکړ. ولسمشر چي خپله يې هم خندل، څو واره پرله پسې وپوښتل: تاسي ولي خاندئ، څه خبره ده؟ ما هم خبر کړئ ! خو خنداوي دومره لوړي وې چي د ولسمشر دغه پوښتني چا ګردسره وانه ورېدې. کله چي خنداوي لږ سوکه شوې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزير، چي له خنــدا يــې سپين پلاسټيکي غاښونه ښکارېدل، لږ په زړورتيا وويل:رئيس صــاحب دا يــوه هندۍ ډرامه ده چي له طلوع ټلويزيون څخه پرلــه پســې خپرېږي: (کيونکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساس بهي کبهي بهو تهي) نومېږي، خو عام خلک يې (تولسي) بولي. ډېره په زړه پوري ډرامه ده، د افغانستان له اوسني وضعيت سره ډېر سر خوري.
ولسمشر، چې خندا يې نوره هم زياته شوه، وويل: ناځوانه چې دا دومره په زړه پوري ډرامه ده، ولې دې ماته مخکې نه ويل. دا خو ستا دنده هم ده. تر دې وروسته يې د کابينې نورو غړو ته مخ ورواړاوه او ويې ويل: داسې معلومېږي چې تاسې ټول دغه ډرامه ګورئ، که څنګه؟ دا مهال په کابينه کې هرې خوا ته زوږ جوړ شو چې هو ! موږ ټول تولسي ډرامه ګورو او ورپسې د تولسي ډرامې د کرکټرونو په باب تبصرې پيل شوې. په دې وخت کې ولسمشر په خندا خپل يوه مرستيال ته مخ ورواړاوه او ورځخه ويې پوښتل: دوی خو وايي چې دا ډېره په زړه پوري ډرامه ده، ايا تاسې يې ګورئ؟
مرستيال يې په يوه لاس د خپلې لنګوټې ول سم کړ او په بل لاس يې خپلې د نظر عينکې پورته کړې، په خندا وويل:
نه، صاحب ! زه يوازې ايراني چينلونه ګورم، هلته هم ډېرې ښې ډرامې رواني دي. ولسمشر تر دې وروسته خپل دوهم مرستيال ته مخ ورواړاوه او دغه پوښتنه يې ځنې وکړه. هغه ورته وويل: نه، زه هم دا ډرامه نه ګورمه، زما يوازې له روسي او فرانسوي چينلونو سره کار دی.
د بهرنيو چارو وزير، چې ولسمشر ته نژدې ناست و، په ډېر فاتحانه ډول وويل: رئيس صاحب ! دا ډرامه ډېره په زړه پوري ده، موږ ټول يې ګورو، د افغانستان له سياسي او امنيتي وضعيت سره ډېر اړخ لګوي. د دې ډرامې اصلي کمال په تولسي کرکټر کې دی چې ډېره ښکلې ده، خو بېچاره ګی، داسې د پرديو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسیسو قرباني ده، لکه افغانستان چې د تراهګرۍ قرباني دی. دا ځل چې هندوستان ته ولاړ شم، نو خامخا یې وینم او افغانستان ته د راتګ بلنه ورکوم. په دې پسې د کانو او صنایعو وزیر زیاته کړه: تولسي خو ربښتیا هم چې بې جوړې ده او پر ما هم ډېره ګره ګرانه ده، خو زما د(دکشا) تمثیل هم ډېر خوښېږي، په تېره بیا د هغې دا تکیه کلام چې وایي: (هی هی هی). له دې سره سم د کابینې ټولو غړو په خندا ورسره بدرګه کړه: هی هی هی...
د ښځود چارو وزیري پوړنی پر سر سم کړ او ویې ویل: زه خو دا وړاندیز کوم چې تولسي ته دي د افغانستان تابعیت ورکړل شي، ځکه زه چې له څه مهال راهیسي دغه ډرامه ګورم، نو په خپله ټولنه کي مي دغسې ښکلې او باسلیقه مېرمنه نه ده لیدلې. تر دې وروسته د لوړو زده کړو وزیر، چې تر دې مهاله یې په دې اړه څه نه و ویلي، ولسمشر ته وکتل او بیا یې وویل: تولسي ربښتیا هم چې ډېره ښکلې ده، له همدې امله زموږ د محصلینو په زړونو کي هم ډېر ځای لري او که ربښتیا ووایم، نو زما زړه یې هم وړی دی، په دې ارزي چې افغاني تابعیت دي ورکړل شي، خو زه دا اندېښنه لرم چې خدای مه کړه په راتلونکو انتخاباتو کي ځان ولسمشرۍ ته کاندید نه کړي، ځکه زه چې په افغانستان کي د دې محبوبیت وینم، نو باور لرم چې هیڅوک به هم انتخابات ورڅخه ونه ګټي. په دې وخت کي په کابینه کي یو زوړ جوړ شو او له هري خوا دا اوازونه راپورته شول: که افغانستاني شي، مسلمانه شي او د خلکو په رایه هم وټاکل شي، څه پروا لري؟ موږ به ډېر نېکمرغه یو، که دغسې یوه ښکلې اوفېشني ولسمشره ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اطلاعاتو او فرهنګ وزير چې له ډېري خوشحاليه يې خوله نه سره ټولېده وويل: زه باور لرم چې تولسي به خامخا ځان کانديد کړي، ځکه چې سياسي پس منظر هم لري،يو مهال په نوي ډيلي کې د (بهارتيا جنتا) ګوند له خوا پارلمان ته کانديده شوې هم وه. د تولسي اصلي نوم (اسمريتي ايراني) ده، له تخلص څخه يې ښکاري چې دا ايراني الاصله هندوانۍ ده او پر ما هم له همدې خاطر ډېره ګرانه ده. افغانستان خو هسې هم د ايران يوه فرهنګي حوزه ده. که ستاسې ياد وي څه موده مخکې زموږ ولسمشر په تاجکستان کې وويل: "افغانستان، ايران و تاجکستان سه کشور هم زبان اند". په دې وخت کې د غونډې ټولو غړو په يوه اواز وويل: هو ! زموږ ياد دي چې ولسمشر دغه خبره وکړه.

د کورنيو چارو وزير وويل: رئيس صاحب ! دا ډرامه نه يوازې دا چې ډېر ليدونکي لري، بلکې د افغانستان په امنيت کې هم خورا ستره ونډه لري. تاسې باور وکړئ چې د شپې له خوا د ډرامې تر ختم پورې، چې نيم ساعت دی، پر سړکونو د پوليسو هيڅ ګزمه نه وي، ان دا چې د پوليسو د حوزې په دروازه کې يو پيره دار هم نه وي، ځکه چې اړتيا يې نشته. د شپې له خوا د نيم ساعت لپاره داسې امنيت دی، چې په نړۍ کې ساری نه لري.

ولسمشر چې تر دې مهاله يې د کورنيو چارو د وزير خبرو ته په غور غوږ نيولی و، لږ په اندېښنه وويل: زه ډېر تعجب کوم چې پر دغسې يو بې مثاله امنيت، چې له پوليسو پرته موجود دی، ولې نړيواله ټولنه سترګې پټوي؟ ولې خبري رسنۍ په دې باب څه نه وايي؟ د ملي امنيت رئيس وويل: رئيس صاحب ! موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره دا خبره پټه ساتلې ده چې غله، طالبان او القاعده شبکه خبره نه شي. د ولسمشر تندی وغوړېده او په خندا يې وويل: ياره دا خو مو ربښتيا هم چې ډېر ښه فکر کړی دی، خو ايا ربښتيا پر دغه مهال تر اوسه څه پېښه نه ده شوې؟ د کورنيو چارو وزير يو ځل د کابينې غړو او بيا ولسمشر ته وکتل او ويې ويل: تر اوسه خو د خدای فضل دی، خير و خيريت دی، هيڅ پېښه نه ده شوې. يوازې د کابل ولايت په قرغه کې يوه کور ته غله ورغلي ول، د کور خلکو تولسي ډرامه کتله، چې غلو يې کور لوټ کړی و او د کور پر يو دېوال يې ليکلي ول: ”تولسي دې ژوندۍ وي“. خو زه فکر کوم چې په دې کار کې هم دولت خپله ملامت دی، ځکه چې برېښنا يوازې په ښارونو کې ده او هغه هم د ښار په يوه ناحيه کې وي او بله کې نه وي. پر دغه مهال خامخا په هغه ناحيه کې برېښنا نه وه، چې د غلو کورونه ول. که نه نو غله خو هم دغه ډرامه ګوري.

ولسمشر لا پر دې خبره تبصره نه وه کړې چې د اوبو او برېښنا وزير دخبرو نوبت واخيست او ويې ويل: ياره داتاسي ثوکسان ډېر ناځوان ياست، تاسي چې دومره په زړه پوري ډرامه ګورئ ماته مو ولې نه ويل. زه خونه وم خبر، وايي: مينه د ښکليو څنګه کيږي ماله چل نه راځي ـــ چې پر چا څه رنګه ګرانيږي ماله چل نه راځي. بيا يې پر خپل ځيګر لاس کښېښود. لومړی يې ولسمشر او ورپسې يې د کابينې يوه يوه غړي ته وکتل او ويې ويل: تر دې وروسته زه تاسي ته ډاډ درکوم چې پر دغه مهال به په ټول افغانستان کې برېښنا وي، ځکه چې دا د افغانستان د امنيت او امنيت د افغانستان د سرنوشت مسئله ده. په دې وخت کې د کورنيو چارو وزير بيا د خبرو نوبت واخيست او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل: رئيس صاحب ! يوه بله ډېره مهمه خبره دا ده چي دې ډرامې زموږ دولت له يو لوی خطر څخه ژغورلی دی. هغه دا چي د سرای شمالي خطرناکه اله ګوله خو تاسي ته معلومه ده چي ډېره خطرناکه توطيه وه، تاسي به نه ياست خبر چي دغه اله ګوله هم د تولسي له برکته پای ته ورسېده.
ولسمشر چي تر دې مهاله يې په ډېر فکري تمرکز د کورنيو چارو وزير ته غوږ نيولی و، ناڅاپه ټکان وخوړ او په ډېر تعجب يې وپوښتل: څه وايې ! ښنګه د تولسي له برکته پای ته ورسېده؟ د کورنيو چارو وزير وويل: د دې اړ و دوړ مشر خپلو ايله جاريانو ته ويلي وه چي د طلوع ټلويزيون خوا ته ورنه شي. ځکه چي هغه وخت تولسي د اوو مياشتو امېدواره وه او بل نو د دغي ډرامې لړۍ شلېده، که نه نو موږ او تاسي خو وليدل چي دغو ايله جاريانو د اريانا ټلويزيون دودانۍ يوه برخه ورانه او په ښار کي يې ډېر نور ځايونه هم لوټ او وران کړل. که دا ايله جاريان د طلوع ټلويزيون خوا ته راغلي وای، تاسي باور وکړئ چي په ښارپور کي زموږ کورونه هم خوندي نه پاته کېدل. دا خو لا څه چي خپله ارګ هم په خطر کي و.
د ښځو چارو د وزيري تندی وغوړېده او په خندا يې وويل: ياره افرين چي يو غل هم دومره د ښځو حقوق پېژني. ولسمشر چي له خندا يې داسي ښکارېده، لکه له خوشاليه چي په کاليو کي نه ځايېږي، د کورنيو چارو وزير ته وکتل او ويې ويل: دغه سړی زه هم پېژنم، چي د سرای شمالي اله ګوله يې رهبري کوله، خو په دې يې نه وم خبر، چي دومره زړه سوی او د ښځو حقوقو ته دې احترام ولري. بايد دغه سړی ښه ونازول شي. د کورنيو چارو وزير په داسي حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي چي په څېره کي يې خوشالي له ورايه ښکارېده او داسي ايسېده، لکه پر ولسشمر چي يو ډېر لوی زېری کوي، په خندا وويل: رئيس صاحب تاسي ډاډه اوسئ، هغه سړی ما ډېر نازولی دی، همدا اوس د افغانستان د يو مهم ولايت د امنيې قوماندان دی. ولسمشر، له خندا په ډکه خوله ورغبرګه کړه: څه وايې؟ د امنيې قوماندان دی؟ عجبه ده ولا زه خو هيڅ خبر نه يم، څه وخت د امنيې قوماندان شو؟ د کورنيو چارو وزير وويل: رئيس صاحب ! هغه مهال تاسي يو بهرني هېواد ته په سفر تللي واست، چي ما ستاسي مرستيال ته پېشنهاد کړ او هغه يې په هماغه شېبه د مقررۍ فرمان صادر کړ. ولسمشر لومړی خپلو دوو مرستيالانو او بيا د کابينې غړو ته وکتل او په خندا يې وويل: ياره ډېر چالاکه خلک ياست ! تاسي تل د خپلي خوښې کسان زما په مرستيالانو هغه مهال مقرروئ چي زه په سفر کي يم، د دولت په لسګونو لوړپوړي چارواکي دغسي قاچاقي مقرر شوي دي چي زه يې څيني کسان تر اوسه هم نه پېژنم. د سوداګرۍ وزير، چي د امنيت په برخه کي د کورنيو چارو د وزير خبري واورېدې، نو ده هم خپلي خبري داسي پيل کړې: تولسي ډرامه د افغانستان د اقتصاد په پياوړتيا کي هم ډېره ستره ونډه لري. په دې وروستيو وختونو کي د افغانستان څيني کورني توليدات، په هېواد کي د مير او تولسي د نامه له برکته د بهرنيو توليداتو په نوم، په لوړه بيه خرڅېږي. زه خپله دغه ډرامه له ډېره وخته راهيسي ګورم. په دې ډرامه کي درې کرکټرونه، لکه: ګووينډر ويراني، پايل ملهوترا او انوپم کباډيا د هندوستان ډېر لوی پانګه وال دي، زه هڅه کوم چي دوی په افغانستان کي پانګي اچوني ته وهڅوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښووني او روزني وزير، چي تر دې مهاله پټه خوله ناست و، وويـل: تولسـي د افغانستان د نوي نسل په زړونو کي هم ډېر ځای لري، زموږ په مکتبونو کي هم شاګردان ټوله ورځ د تولسي ډرامې په باب تبصـرې کوي. کـورنی کـار او درس بيخي ځني پاته دی. ښوونکي خو هسي هم په دې معاشونو ټولګيو ته نه ځـي، بس نو په ټولګيو کي پر تولسي ډرامه ښه باندار تود وي. تر دې وروسته د حج او اوقافو وزير هم له خندا په ډکه خوله وويل: دا ډرامه زه خپله هم ګورم او د عامو خلکو هم ډېره خوښه ده، په هغو مسجدونو کي چي ملا امامـان يـې د تولسـي ډرامې د خپرېدو پر مهال جماعت کوي، پنځه نفره هم نه وي، ځکه چـي ټـول خلک تولسي ډرامه ګوري. ما ټولو ملا امامانو ته مکتوبي خبـر ورکـړی، چـي د جماعت وخت ته تغير ورکړي، ځکه چي تولسي ډرامه هم ډېره مهمه ده، تاسي د پښتو ژبي دا لنډۍ نه ده اورېدلې چي وايي: لمونځ که قضـا شـي، بيـا بـه ادا شي- ادا به نه شي، قضا شوي ديدنونه.

يوه وزير په ټوکه وويل: بيشک ولاوزير صاحب، شما چيقه خـوب پشـتو را يـاد داريد. د حج او اوقافو وزير په خندا وويل: پشتوی مـا هـم هميقـه بـود، ديګـه خلاص شد.

د عامي روغتيا وزير چي وليدل، هر وزير د تولسي ډرامې په باب خپلي بريـاوي بيانوي او ښه تود هر کلی يې کېږي، نوده هم خپلي خبري داسي پيل کـړې: دا ډرامه رښتيا هم چي ډېر ليدونکي لري، زموږ ټول طبـي پرسـونل دغـه ډرامـه ګوري، ان دا چي د روغتون په عاجل وارډ کي يو نرس او يو ډاکټر هـم نـه وي. ولسمشر په ګوته د غونډې برخه والو ته اشاره وکړه او په خندا يې وويل: ګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناځوانانو ! تاسي ټول تولسي ډرامه ګورئ، خو ماته مو نه ويل. تر دې وروسته به يې زه هم ګورم، خو ستونزه دا ده چي په سفر کي يې بيا نه شم ليداى، تاسي ته خو معلومه ده چي زما ټول وخت په خارجي سفرونو کي تېر شو. ښه بــه دا وي چي زما د قبايلي چارو مشاور وزير دغـه ســريال تعقيــب کــړي او هــر ســهار د هماغي برخي کيسه راته وکړي، ځکه چي دى بېچاره هسي هم بې سواده دى، نور کارونه نه شي کولاى.

د قبايلي چارو مشاور وزير، په داسي حال کي چي نسوار يې خــولې تــه اچــول، وويل:

ما به پر دواړو سترګو دغه کار کړى واى، خو زه په يوه ټکي پاړسو نــه پــوهېږم. تاسي چي تر اوسه پوري د کابينې څومره غونډې کړي دي، نو ټولي خبري يې په پاړسو وي، زه يې ولاکه په يوه ټکي پوهېدلى يم. ولسمشر تر يوې نرۍ خندا وروسته دفاع وزير ته مخ ورواړاوه او ورته ويې ويل:

جنرال صاحب ! زه فکر کوم چي تاسي دا کار ښه کولاى شئ، ښه کافي وخــت ورته لرئ، ځکه چي د افغانستان نظامي چاري هسي هم زموږ بهرني دوســتان سنبالوي، د افغانستان کورنۍ چاري هم دغسي درواخله. ما يــو ځــل غوښــتل چي دغه دواړه وزارتونه ښځي له منځه يوسم، خو وزيــران يــې بېکــاره کېــدل، ځکه مي دغه کار ته اوږه ونه لګېده. که رښتيا ووايم، نو له وسه مي پوره نــه وه. ځکه چي که کوم والي له ولايته نه ليري کېږي، نو سرې به د وزارت او يا مشاور وزارت وړانديز ورته وکړي، که څه هم هغه بې سواده وي. خو کــه يــو وزيــر لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارته ليري کوم، هغه ته به د خپل پوست پرته څه وړانديز وکړم؟ دفاع وزير، په داسي حال کي چي خوب زنګاوه، وويل:

ستاسي خبره بېخي سمه ده، خو دا ډرامه د شپې ناوخته پيل کېږي، زه ډېر وختي ويده کېږم. همدا اوس هم ويده وم، ستاسي په خنداګانو راويښ شوم. له دې خبري سره سم د غونډې ټولو برخه والو وخندل. ولسمشر تر دې وروسته د بهرنيو چارو وزير ته مخ ورواړاوه او ويې ويل:

ډاکټر صاحب ! زما خو داسي خوښه ده، چي دا ډرامه تاسي تعقيب کړئ، ښه دی ستاسي لپاره به هم يو ښه مصروفيت وي او که زما سره په سفر کي ملګري واست، نو بيا به په بهرنيو چارو کي زما مشاور وزير دغه دنده پر مخ وړي. که هغه هم بوخت و، نو زما بل مشاور وزير به دغه کار کوي. زما مشاور وزيران خو هم ماشاءالله دومره ډېر دي چي زما څخه يې هم حساب ورک دی، له ځينو سره خو مي په پوره يوه کال کي ليدلي هم نه دي. د بهرنيو چارو وزير خپل يو لاس پر ځيګر کښېښود او ويې ويل:

صاحب پر دواړو سترګو ! دا زما لپاره ډېر وياړ دی. د اطلاعاتو او فرهنګ وزير غوښتل ولسمشر ته دا وښيي چي دا ستره بريا ده لاس ته راوړې ده، غاړه يې اوږده کړه او ويې ويل:

ځيني خلک له طلوع ټلويزيون څخه سر ټکوي، چي دا د ايرانيانو چينل دی،ايراني فرهنګ ته کار کوي، د افغانستان ملي ټرمينالوژي نه مراعتوي، قومي او ژبني تعصب ته لمن وهي. دغه خلک ماته هم دا ګوته نيسي چي د دې چينل تر شا ولاړ يم. زه وايم، دا خبره سمه ده چي زه د دې چينل تر شا ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يم، خو دغـه انتقـاد اصـلاً د (اى، ايـس، اى ) کـار دى، ځکـه چـي هغـوى پـه افغانستان کي يو داسي هندي سريال نه شي زغملاى چي دومره ډېر ليدونکي دي ولري او يا ښايي له دې به وېرېږي که تولسي د افغانستان تابعيت ولري، نو د ولسمشرۍ په انتخاباتو کي خامخا بريالۍ کېږي. د کانو او صنايعو وزير وويل:
دا ډرامه رښتيا هم چي ډېره په زړه پوري ده، په تېره بيا د تېري شـپې صـحنه چي د مير د واده سالګره وه، واه وا...
په دې وخت کي ولسمشر خپل فرهنګي مشاور تـه مـخ ورواړاوه او ورتـه ويـې ويل:
دوى وايي چي د تېـري شـپې صـحنه ډېـره جالبـه وه، تـه همـدا اوس طلـوع ټلويزيون ته ټيليفون وکړه چي دغه برخه تکراري خپره کړي. فرهنګي مشـاور وزير په خندا وويل: صاحب تاسي غـم مـه کـوئ، دا ډرامـه هـره ورځ تکـراري خپرېږي، همدا اوس لس دقيقې وروسته يې وخت دى. ولسمشر وويل:
ښه چي داسي ده، نو تر دې وروسته به زموږ د غونډي پـه مـنځ کـي تفـرېح د تولسي ډرامې د نشر پر مهال وي. زما په فکر تر دې به بله ښه تفرېح نه وي. زه اوس ځم چي ډرامه راڅخه تېره نه شي. نور زموږ نننۍ غونډه پاى ته ورسـېده، د خداى په امان. ولسمشر لا د غونډي له مېز څخه درې ګامه نه و ليري شوى، چي د ښځو چارو وزيري ورپسي غږ کړه:
”هی هی هی، چه يک رئيس جمهور ديموکرات !“.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خره حافظه

زموږ یو شین خر و چې خورا قوي حافظه یې درلوده. په تېره بیـا د کـور او بـاغ لاره خوګردسره نه ځني ورکېده. کله چې به دي له غوجلي څخه خوشي کړ، نو نېغ به باغ ته ولاړ او بیا چې به دي بار پر باندي کړ او ایله به دي کړ، نـو هـم بـه برابر کور ته راغی. د ده قوي حافظې موږ دومره زړور کړي وو، چې یوازي به مو هم خوشي کاوه.

یوه ورځ مي د کور سودا پر بار کړې او له ښار څخه د کلي پر خوا راروان وم، چې په لاره کي له یوه انډیوال سره مخامخ شوم. زموږ خبري همداسي په ولاړي ښه ډېري اوږدي شوې، یو وخت ګورم چې خر تللی دی. زما هم زړه پوره (ډاډه) و، چې څه نه به ورکېږي، د کور لاره ورمعلومه ده.

کله چې کور ته راغلم، نو ګورم چې خر نه دی راغلی. توري ځمکي مي ورپسي سپیني کړې، شا و خوا نژدې کلي مي ورپسي وپلټل، خو خر مي پیدا نه کړ. تر دې مهاله مي په خـره ډېـر لاس خـلاص و. د ژرنـدي پېټـی، د ښـار سـودا، د حیوانانو واښه او داسي نور اړه ومانده مي ټول په خره پوري تړلي ول. کله چـې مي خر ورک شو، نو داسي مي لاس په خوله شو چې یوې خوا تـه مـې مـخ نـه ګرځېده. یوازي مي دا خواري نه وه چې خر مي ورک شو، بلکي پر خره بانـدي بار سودا هم ورسره ورکه شوه. نور نو ټولي لاري راباندي ودرېدې، یوازي یوه لار راپاته وه، هغه دا چې کتني والا (کوډګر) ته ورشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په سیمه کې یو تعویذګر، چې ملاتور نومېده، خورا مشهور و. د ملا تور برجوره کلا د انګوري باغونو په منځ کې ودانه شوې وه، چې د دروازې پر سر یې د غره د پسه یوه جوړه ښکرونه نصب شوي ول. د کلا مخ ته به هره ورځ ګڼ شمېر خلک په نوبت کې ناست ول، چې له نژدې او لیرو سیمو څخه به راغلي ول. چا به ناروغان راوستلي او د چا به بیا یو دوست، یو حیوان او یا کوم شی ورک شوی و.

خلکو ویل چې یوه ورځ د ملاتور د نیکه، چې یو ډېر بزرګ سړی و، د غره د پسه غوښو ته هوا شوې وه. بیا د ده مبارک په کرامت یو د غره پسه په خپله د ده کور ته راغی. ده حلال کړ، چې دا دی اوس یې ښکرونه دلته نصب دي.

ملاتور یې څکه باله، چې له رنګه داسي تک تور و، لکه د ایرو کباب. ملاتور نه ملا او نه هم پرهېزګاره و، خو خلکو بیا هم ښه سړی باله. ویل دا پخې غوښې دي، څه به نه په کښې وایو. دی چې خپله هر ډول دی، خو نیکه ګان یې ښه خلک تېر شوي دي، خامخا د هغوی لاس وربانـدي پـروت دی. د ده پـه بـاب ډول- ډول خبري کېدې، چا به ویل چې ښاپېرۍ لري، چا به ویل چې پېرۍ یې مسخر کړی دی او ځینو به بیا ویل چې نیکه ګان یې په خوب کې ټول حال ورته وایي. خو خپله ملاتور یوازي دا وروستۍ خبره منله او ویل به یې چې مونږ په مړو کي زورور یو.

ملاتور تر شپېتو کالو اوښتی او خورا لویه کوړمه (کورنۍ) یـې درلـوده. ده اتـه ځوانان زامن درلودل، چې نه خپله ملاتور او نه زامنو یـې تـر دوو کمـي ښـځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودې. دوی په دغو ښځو کي يوه هم په ولـور نـه وه غوښـتې، بلکـي خلکـو ورېخښلي وې.

له خپل پلار څخه مي اورېدلي ول چي د ملاتور، نيکه پر يوه خره کډه راوړل او په دغه کلي کي يې ملايي ونيوله، خو اوس يې دومره ډېر جايداد درلود چـي د ده کړوسيانو هم نه شوای خلاصولای.

زه سهار په خره ورغلی وم، خو ايله غرمه نوبت راورسېد. ما هـم هغـه کـولنګي چرګ، چي په درور کي مي له ځانه سره وروړی و، خليفه ته ورکړ او د ملاتور د ناستي خوني ته ورغلم. ملاتور تر سترې مشې وروسته اشاره راتـه وکـړه چـي کښېنه ! تر ما مخکي يو بل سړی، چي ساعت يې ورک شـوی و، هـم د ملاتـور څنګ ته ناست و. ملاتور يو څو دقيقې سر پر زنګنو کښېښود، بيا يې راپورته کړ او ويې ويل: ستا ساعت ورک شوی نه، بلکي يو چا درڅخه غلا کړی دی، خو ته غم مه کوه انشاء الله چي پيدا به شي. سړي جېب ته لاس کړ، چـي د شـکرانې پيسې راوباسي. ګوري چي هغه ورک شوی ساعت هم له پيسو سره يو ځای له جېب څخه راووت. په دې وخت کي د سـاعت خاونـد د ملاتـور پـه پښـو کـي ورپرېووت او ويې ويل: ستا قربان شم، بې شکه چي دخدای دوست يې، دا زمـا ساعت څنګه ژر پيدا شو، خامخا پېريانو راوړی دی. له دې سره سم په کوټه کي د خلکو زور جوړ شو او د ملاتور صفتونه پيل شول. په دې وخت کي ملاتور تـر خپلو خريلو برېتو لاندي وخندل او په فاتحانه ډول يې د مجلس يوه يوه سـړي ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سړی چي رخصت شو، بیا زما نوبت راغی. ملاتور ته مي د خپل ورک شوي خره خبره یاده کړه. ملاتور سر پر زنګنو کښېښود او له ځان سره یې داسي څه ویل، چي زه نه په پوهېدم. یو څو دقیقې وروسته یې سر راپورته کړ او ویې ویل: ستا خر غلا شوی نه، بلکي ورک شوی دی، ته کور ته ولاړ شه انشاء الله پیدا به شي.

سبا ورځ په کور کي ناست یم، چي زموږ شین خر له باره سره کور ته راغی او برابر خپلي غوجلي ته ولاړ.

کله چي خره ته ورولاړ شوم، نو ګورم چي خر زما، خو بار یې د بل چا دی. ما یې لا بار نه و خلاص کړی، چي د کور دروازه وټکېده. دروازه چي مي خلاصه کړه، نو ګورم چي یو سړی په دروازه کي ولاړ او راته ویې ویل: وروره وبخښه زما خر ستاسي کره راغی.

ــ هو ! زموږ کره اوس یو خر راغی، خو هغه زموږ خپل خر دی، چي پرون ورک شوی و.

ــوروره دا خر زما دی او نن مي په ګنج کي رانیو.

ــته هم عجیبه خبري کوې، ټول کلی شاهدان دي، چي دا خر زما دی او یو کال کېږي چي راته ولاړ دی.

سړي یوه ترخه خندا وکړه، ږیره یې په موټ کي ونیوله او راته ویې ویل: وروره زه هم په دې لویه ږیره درواغ نه وایم، دا خر زما دی او نن مي په ګنج کي رانیو. بیا مي په ښار کي سودا رانیوله او پر بار مي کړه، خر مخکي، زه ورپسې او د کور خوا ته روان وو. کله چي دلته راورسېدو، نو خر ستاسي کور ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو پوښتنو- ګروېږنو وروسته معلومه شوه، چې دې سړي خر له غلـه ځخـه رانيولی و. اوس زه نه پوهېږم چې دا به د خره د قوي حـافظې بر کـت و، چــې د خپل کور لاره ورمعلومه وه او که به د ملاتور بزرګي وه، چــي زمـوږ شــين خــر ببرته پيدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپي څنګه مډالونه وګټل؟

د ارګ په دروازه کي یوه ډله خبریـالان پـه دې نیامـت ولاړ ول، چـي پـه یـوه مطبوعاتي غونډه کي برخه واخلي. په دې وخت کي یو عسـکر لـه ارګ څخـه راووت او دا یادښت یې پر دېوال ونښلاوه: "هغه بهرنی سپی، چي پخوا بـه یـې خلک تالاشي کول، نن ناروغه او متخصص ډاکټر یې ویلي چي باید درې ورځې استراحت وکړي، نو له همدې امله نن مطبوعاتي کنفرانس نه شي جوړېدای".

ربښتیا هم نن ورځ د سپیانو لپاره ډېره غمجنه ورځ ده، ځکه ښاروالۍ دوه ساعته مخکي کوڅه ډبو سپیانو ته په زهرو لړلي خواړه وراچولي دي او اوس له کوڅـو او سړکونو څخه مړه سپیان راټولوي او په موټرونو کي یې له ښاره دباندي وړي.

یو زوړ سپین سپی، چي چارچشمه نومېږي او په یوه پښه نګښي، تر یوې مورۍ ارګ ته ورننوت. هلته یې ولیدل چي یوه سړي یـو تـور سـپی پـه درې اربیـزه ګاډۍ کي کښېنولی او شا و خوا په ارګ کي چکر ورکوي. په ګاډۍ کي ناسـت سپي داړي جینګي کړې، خپل ټټر ته یې اشاره وکـړه او ویـې ویـل: زمـا نـوم جنرال "جیټ براون" دی او د امریکا د متحده ایالاتو پـه پـوځ کـي د پولیسـي سپیانو د یوولسمي ټولۍ قوماندان یم او دا زما معالج ډاکټر "مایکل" دی.

بیا چارچشمه په عاجزانه کړونچي سره ځان جیټ ته وروپېژانده او د ښاروالۍ د کمپاین خبره یې ورته وکړه. جیټ د زړه سـوي پـه ډول پـر چارچشـمه بـوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیښ او بیا یې هغه خپل دفتر ته بوت. چارچشمه خپله لکۍ وښوروله او ویې ویل: من، من غوښه اخلم چي نن یو سپی داسي لوړ مقام لري. بیا جیټ هلتـه یوه بهرني سړي ته اشاره وکړه او ویې ویل چي دی "جېک" نومېږي او زمـوږ د ټولۍ اشپز دی، بیا یې "جېک" ته وویل چي مېلمه ته ډوډۍ راوړي. جېک هم سمدلاسه چارچشمه ته غوښه، بسکېټ او معدني اوبه راواخیستلې. چارچشمه د جیټ په دفتر کي د قیمتي مېز، څوکیو، غالیو، پردو، یخچال، ایرکنډېشـن او نورو قیمتي سامانونو په لیدو یوې او بلي خوا ته حیران- حیران کتـل. پـه دې وخت کي یې پر څو مېډالونو سترګي ولګېدې او ویې وپوښتل:

دا مېډالونه د چا دي؟

ـدا زما دي.

ـڅه شی ! ستا دي؟ دا لومړی وار دی چي د سپي د مېډال اورم !

ـپه پوځ کي مېډالونه معمولاً د سولي نه، بلکي د جګړې اتلانو ته ورکول کېږي او د جګړې له اتلانو څخه یو زه هم یم.

ـتا خو ماته وویل چي په ارګ کي د تالاشۍ دنده لرئ، د جګړې خبره خو مـو ونه کړه.

جیټ د غرور په ډول وغرړل او ویې ویل: لس کاله کېږي چي زه په پوځ کي کار کوم. لومړی ماموریت مي د ګوانټنامو په زندان کي و او هلته مي د تحقیـق پـه څانګه کي کار کاوه. هر چا چي به اقرار نه کاوه، انسانانو به یې لاسـونه او پښـې وروتړل، په سر به یې توره کڅوړه ورواغوستله او بیا به یې زه ورخوشي کړم چي ویې داړم. ما به هم تر هغو داړه چي یا یې اقرار کولای او یا مړ کېـدای. یـو ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي د يوه سړي په غاړه داسي کلکه خوله ورولګوله چي ځای پر ځای مړ شــو. د زندان چارواکو اوازه واچوله چي دې سړي په خپله ځان وژلی دی، خو ماته يې د دې قهرمانۍ په بدل کي دغه يو د سرو زرو مېډال راکړ. دا چي له انسان سره په مبارزه کي قهرمان شوم، نو د لسو خروړو سپيانو په مشرۍ پــه عــراق کــي د "ابو غريب" زندان ته ولېږل شوم. هلته يوه ورځ د زندان چارواکو له يــوه بنــدي څخه کالي وايستل، پښې او لاسونه يې وروتړل او بيــا يــې زه ورخوشــي کــړم. بندي چي مي هرڅومره وداړه، داسي کلک و، لکه ډبره، ګردسره يــې اقــرار نــه کاوه، خو کله چي مي يې په سر خوله ورولګوله او ومي غوښتل چي مــاغزه يــې وخورم، نو بندي سمدلاسه په ژړا پيل وکړ. قوماندان مي دغه نوی تاکتيک ډېر خوښ کړ او ماته يې زما د دې قهرمانۍ په بدل کي يو د سرو زرو مېډال راکړ. دا چي هلته مي د ترهګرۍ ضد مبارزې کي لوړ نوم وګاټه، نو د لا نور خدمت لپاره يې افغانستان ته راولېږلم. دغه دوه مېډالونه وينې؟ دا مي دلته ګټلــي دي؛ پــه افغانستان کي مي يوازي مېډالونه نه، بلکي د جنرالۍ رتبه هم وګټله.

چارچشمه يو هډوکی په تکليف تر ستوني تېر کړ او ويې ويل: ښه اندېواله اوس دا راته ووايه چي ارګ ته ځنګه راغلې او دلته دي دنده څه ده؟ جيــټ بر ېټونــه پورته کړه اوويې ويل: زه چي کله افغانستان ته راغلم، نو لومړی ماموريت مي د کندهار او دوهم د بګرام په هوايي ډګر کي و. په دې دواړو ځــايونو کــي مــي د ګوانتېنامو او ابو غريب په شان خپله دنده په ډېر برياليتوب سرته ورسوله، تر دې وروسته د افغانستان د اساسي قانون د لويي جرګې د څارني لپاره ور وګنډل شوم چي دا په حقيقت کي زما لومړی سياسي ماموريت و. کله چي هلتــه هــم ښــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځلېدم، نو بیا ارګ ته راوستل شوم. دلته زما دنده یوازې دا ده چې ارګ تــه د باروتو د راوړلو مخه ونیسم. که څه هم ارګ ته ډېر داسي خلک راځي چــي لــه لاسونو یې د تارياکو او انسان د وینو بوی ځي او دوی د دولت لوړپوړي چارواکي هم دي، خو زه دوی نه رسوا کوم. جیټ د ارګ عمومي دروازې ته وکتل او ویې ویل: په دې ارګ کې د واک پر سر ډېرو انسانانو یو د بل ويني تــوی کــړې دي، ډېرو نژدې خپلوانو یو د بل سترګي ړندې کــړي دي، ان دا چــي شــاګرد خپــل استاد وژلی دی. پر دې ارګ داسي انسانانو هم برید کړی چي ډېر باور ورباندي شوی و او د ارګ د ساتني لپاره ګمارل شوي ول، خو له څه مهاله راهیسي چي په ارګ کي پر سپي اعتماد شوی، نو له نېکه مرغه هیڅ یــوه بــده پېښــه نــه ده شوې. تر دې وروسته جیټ د غرور په ډول په زوره- زوره وغپل او څــو واره پــه خپل دفتر کي سره راوګرځېده چي چارچشمه هم دغه ډول غپا ورسره بدرګــه کړه. چارچشمه د غوښي تر خوړلو وروسته پر شونډو ژبه تېره کړه او ویې ویــل: زما مهربانه ملګرې ! نه شي کېدای چي ماته هم دغــه ډول یــوه رســمي دنــده راپیداکړې؟ جیټ په خپله پسته څوکۍ کي وغځېد او ویې ویل: ولي نه ! ته هم زما په شان رسمي کار کولای شې، خو ستونزه دا ده چي ستا انګلیسي ژبه نه ده زده. نن چي د چا انګلیسي زده وي، بس هر څه یې زده دي، اســتعداد تــه یــې څوک نه ګوري. په افغانستان کي ګــڼ شمېر بهرنیان یوازې له دې املــه چــي بهرنیان دي، لوړ ډالري معاشونه لري. دا زما معالج ډاکټر "مایکل" وینــې ! دی یو عادي نرس دی، خو دلته د ډاکټر په نــوم راغلــی او پنځــه زره ډالــره معــاش اخلي. دا زما خدمتګار "جېک" بې سواده دی، خو درې زره ډالره معــاش لــري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دا چي ته د افغانستان سپی یې، کـه چېـري خـارجي سـپی وای او یـا دي خارجي تابعیت درلودای، نو اوس به دي زما په شان ډېره لویه څوکۍ درلودای. لکه څنګه چي بهرنیان پر افغانانو باور نه کوي، دغسي یې پر سپیانو هم باور نـه کوي. دا دی وګوره په افغانستان کي ګـڼ شـمېر بهرنـي سـپي پـه امنیتـي او نظامي برخه کي کار کوي. حال دا چي که د افغانستان سپیانو تـه هـم روزنیـز ورکشاپونه جوړ شي، نو دغه ډول کارونه کولای شي. په دې وخت کي د جیـټ پام شو چي چارچشمه سر پر څپړو ایښی او سترګي یې لـه اوښـکو ډکـي دي. جیټ د چارچشمه سر پر خپل زنګانه کښېښود، اوښکي یې ورپاکي کړې او پـه مهربانۍ یې ورته وویل: ګرانه دوسته ! ته ناهیلی کېږه مه. زه په افغانستان کي د سپیانو راتلونکی ډېر روښانه وینم، ځکه ورځ په ورځ افغانان یو پر بل بې باوره کېږي، چي په نتیجه کي یې ګډوډي هم ورسره ډېرېږي؛ که چېري دغه حالت نور هم دوام ومومي، نو موږ ته به ډېر کارونه پیدا شي، چي اخر به د پولیسو پـه هره پوسته کي یوه یوه سپي ته اړتیا پیدا شي. د دې خبري یو ثبوت دا دی چي نن په افغانستان کي په زرګونو نظامي کدرونه بېکاره او بې سرنوشـته ګرځـي، خو زه او زما په شان نور سپیان ډېري ښې وظیفې او امتیازات لري. زه بـاورلرم چي یو وخت به په افغانستان کي یو سپی هم بېکاره پاتـه نـه شـي. جیـټ لـه خپلي څوکۍ څخه ولاړ شو، په کوټه کي یې شا وخوا وکتل او وه یې ویـل: نـن هغه وخت نه دی چي د یو بد او ټیټ انسان تشبه دي له سپي سره وشي، نن په لوېدیځو هېوادونو کي خلک له حیوان، په تېره بیا سپي سره یوځای اوسـېدل، یو ځای ډوډۍ خوړل، مینه کول او ان دا چي واده کول، نوی تمدن بولي. جیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله کوټه کي پر دېوال د یوې ښکلي نجلۍ عکس ته اشاره وکړه او ویې ویل: دا وینې؟ دا زما انډیواله (Girl friend) ده، چي "جولیا" نومېږي. دا یوه ملیونره ده چي په امریکا کي اوسېږي او د حیواناتو د حقوقو د سازمان مشره هم ده. پر ما ډېره ګرانه ده او زه هم پر دې ډېر ګران یم، ماته دغه وظیفه هم دې راپیدا کړې او وصیت یې کړی چي تر مړیني وروسته به یې ټوله پانګه زما وي او بله خو لا دا چي شپږ میاشتي وروسته چي زما رخصتي ده، زما سره واده کوي.

تر دې وروسته جیټ د مهربانۍ په ډول خپله خېره د چارچشمه په غاړه کي ورواچوله او ورته ویې ویل: ګرانه ملګرې ! ما د افغانستان په اړه ډېري خبرني کړي، خوپه دې باب مي تر اوسه د سپي له خولې څه نه دي اورېدلي، نو که ته لومړی د ځان او بیا د افغانستان د تېرو څو کلونو په باب لنډ معلومات راکړې، ډېر به خوښ شم. چارچشمه سر له څپړو څخه راپورته کړ، غوږونه یې شک-شک ونیول او ویې ویل:

زما خاوند د کمونیستانو د حکومت په وروستیو وختونو کي د حکومتي ملېشو قوماندان و چي "یُلداش" نومېده. نوموړي زه او زما ورور "خاکي" له لومړۍ ورځي څخه د جنګ لپاره لوی او وروزلو. یوه ورځ خاکي د سپیانو جنګولو (سګوانۍ) په میدان کي د یو غښتلي سپي له لاسه مات شو. یلداش ته درد ورغی او زما ورور یې په هغه میدان کي په میکاروف تفنګچه وویشت او مړ یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په کابل کې د مجاهدينو حکومت جوړ شو، نو زما خاوند د ملي اردو جنرال شو. څو ورځې لا نه وې تېرې شوې چې د جهادي تنظيمونو تر منځ جګړې پيل شوې او ګام پر ګام پاټکونه جوړ شول. نور يې څه کوې، ترخه او پاچا و، چې جنرال يلداش هم يو پاټک جوړ کړ. د ده ايله جاريانو به هره ورځ په لسګونو خلک بنديانول، د چا په سر کې به يې مېخونه ورټکوهل او څوک به يې په مړيني نڅول. يوه شپه يې يو سړی، چې پښې او لاسونه يې ورتړلي ول، ماته راواچاوه، ما يې لومړی پزه او غوږونه وخوړل او بيا مې يې نس ورڅيرې کړ. په دې وخت کې زما خاوند داسې په خوند- خوند راته کتل، لکه د ده چې هم د انسان د غوښو خوراک ته هوا شوې وي. زما په ژوند کې تر ټولو ښه خاطره هم دغه ده، چې د انسان غوښې مې وخوړې او هغه هم داسې يو انسان، چې خپله انسان په خوله کې راکړ. په دې ورځو کې په افغانستان کې د انسانانوتر منځ جګړه داسې توده وه چې د سپيانو جنګول يې ګردسره له ياده وتلي ول. يوه ورځ مخالفې جنګې ډلې يوه قوماندان، چې طلاخان نومېده، زمونږ سيمه ونيوله او زه په يوه زېرخانه کې په موږي پوري تړلی پاته شوم. طلاخان زما په ليدو خورا خوشاله شو. تر يو څه وخت وروسته د طلاخان يو ملګری "جبار" زما انډيوال شو، د وخت په تېرېدو سره جبار ته سړيتوب بد وايسېده او سوکه-سوکه يې د سپيانو پېښې پيل کړې. لومړی يې خپل وېښتان د سپي په ډول ببر پرېښوول، بيا يې د سپي په شان غپل زده کړل او تر دې وروسته يې د سپي په ډول داړل او د غوښو خوړل هم زده کړل چې بيا به ما او ده په ګډه د انسانانو غوښې خوړلې. بيا يو داسې وخت هم راغی چې جبار په ښکاره له سړيتوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوښت او د سپیتاني اعلان یې وکړ. په دې وخت کې جیټ له ډېرې خوشالیه له خپله ځایه ټوپ وهل، چارچشمه یې په غېږ کې ونیو او ویې ویل: نو جبار اوس چېرې دی؟

ــ هغه د طالبانو د رژیم تر رنګېدو وروسته حکومت ونیو او اعدام یې کړ.

ــ اوف ! نو ولې یې اعدام کړ؟

ــ هغه د خپلې سیاسي مفکورې له امله اعدام شو.

ــ څه شی ! د سیاسي مفکورې له امله؟

ــ هو ! ځکه جبار د هغه سیاسي ګوند غړی و، چې اوس د امریکایانو په تور لیست کې شامل دی.

که څه هم دولت ظاهراًًٍ جبار ته د سلو نفرو وژل پلمه کړل، خو په حقیقت کې یې هغه د خپلې سیاسي مفکورې له امله اعدام کړ، ځکه په افغانستان کې داسې ډېر کسان شته چې په زرګونو افغانان یې وژلي دي. دغه کسان نه یوازې دا چې چا حساب کتاب ورسره ونه کړ، بلکې اوس هم سرې سترګې ګرځي او د دولت په لوړو پوستونو کې هم کار کوي.

جیټ خپرې سره وموښلې او ویې ویل: که زه هغه مهال په افغانستان کې وای، نو هیڅکله به جبار نه وای اعدام شوی. یاره دې طالبانو خو ډېر لوی خیانت کړی دی چې په کابل کې یې دغسې یو طلایي حکومت رنګ کړ، که نه نو اوس به مو د خپل انسان الاصله سپي په مرسته ډېر ملګري پیدا کړي وای.

چارچشمه د ډاډ په ډول د جیټ پر اوږه خپره کښېښووله او ویې ویل: یو بل زېرى به هم دربانديې وکړم، هغه دا چې د کمونیستانو په دوره کې هم دوه نفره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سرېتوبه اوښتي او په ډېر ویاړ یې سپیتانه منلې وه. جیټ له ډېري خوشالیه ټوپونه ووهل او چارچشمه ته یې وویل چي هله ژر راته ووایه چي دا څوک ول؟ چارچشمه وویل: کله چي د کمونیستانو په لومړیو وختونو کي انجنیر ظریف د کندهار والي و، نو د سپیو په نوم یې دوه نفره ساتلي ول، چي د اقــرار اخیســتلو لپاره به یې بندیانو ته ورخوشي کول او هغوی به هم بندیان داسي کلک وداړل چي اصلي سپیان به ورته هېښ پاتې شول. جیټ وپوښتل: هغه دوه نفره اوس چیري دي؟ چارچشمه وویل: نه یم خبر چي هغوی به اوس چېري وي؟ تر دې وروسته چارچشمه د جیټ غوږ تــه خولــه ورنــژدې کــړه او ویــې ویــل: ګرانــه ملګرې ! ما خو تاته مخکي وویل چي زه په ډېر بد حالت کي ارګ ته راغلی یم، اوس دا راته ووایه چي باید څه وکړو؟ جیټ د خندا په ډول خولــه ویــړه کــړه او ویې ویل: ګرانه دوسته ! ته زړه مه اچوه، زما سره طرحه شــته. لــومړی خــو دا چي ته باید انګلیسي ژبه زده کړې. چارچشمه د حیرانتیا په ډول غوږونه شک-شک ونیول او ویې وپوښتل: څه شی ! انګلیسي ژبه زده کړم؟ ما خو نه څوک د انګلیسي ژبې په کورس کي شاملوي او نه د فیس وس لرم. جیټ چارچشمه په غېږ کي ونیو او ورته ویې ویل: ولي وارخطا یې ګرانه، زه خو لا ژوندی یم. زه به انګلیسي درزده کړم. هره شپه ارګ ته راځه، زما سره بــه ډوډۍ هــم خــورې او انګلیسي به هم درته ښیم، په دریو څلورو میاشتو کي یې زده کولای شې. څلور میاشتې وروسته زما انډیواله ”جولیا“ کابل ته راځي، زه به دي ورته معرفي کړم او هغه به دي له ځانه سره امریکا ته بوزي. هلته به یو ورکشاپ ووایې، تــر هغــه وروسته به جولیا بهرنی تابعیت درته واخلي او بیا به په امریکایي ځواکونــو کــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته افغانسان ته راشي. بيا دي نو خولۍ په غوږو کي ده، زما په شان به ډېر ښه پوستې ولري، داړي خو به دي ښه تېرې وي کنه؟

چارچشمه داړي سپيني کړې او ويې ويل:

ــهو ! داسي تېرې دي چي اوښ هم په څيرلاى شم.

ــڅه شى ! اوښ؟ ياني ته غواړې چي يو حيوان څيري کړې؟

ــنه دغسي يوه خبره مي وکړه، ما ويل که اړتيا پيدا شي، نو اوښ هـم څيـرلاى شم. جيټ وويل:

ــهيڅ اړتيا نه پيدا کيږي، ځکه چي موږ انساني پوځيان يو او انسان، نه يوازي دا چي ټولي جګړې يې له انسان سره دي، بلکي خپلي ټولي لويي سلاوي يې هـم د انسان لپاره جوړي کړي دي، خو په هر صورت؛ ستا مسؤليت يـوازي پـه دې سره پاى ته نه رسيږي چي ته يو عسکري صاحب منصب شې، ته بايد لومړى په کابل او بيا په نورو ولايتونو کي د انګليسي ژبې کورسونه جوړ کړې چي لـه دې لاري د افغانستان سپيانو ته کارونه پيدا شي.

چارچشمه په انديښنه وويل: نو د افغانستان اردو خو ډېر کوچنى دى، ايـا ټولـو سپيانو ته به کار په کښي پيدا شي؟ جيټ وخندل او ويې ويل: ستا خبره سـمه ده، خو ما په دې باب هم فکر کړى دى. تاته خو معلومه ده چي په نړۍ کـي د چرګانو والګى ورځ په ورځ مخ پر ډېرېدو دى او په افغانستان کي يې هـم نښـي نښانې ليدل شوي دي او ځيني سپي او ګيدړي دغه ناروغه چرګان خوري، چي په دې ډول د افغانستان د سپيانو روغتيا ته يوجدي خطـر متوجـه دى. زه بـه دغه موضوع زما له انډيوالي "جوليا" سـره شـريکه کـړم. هغـه کـولاى شـي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانسان د عامي روغتيا وزارت په چوکاټ کي د چرګـانو د والګـي د مخنيـوي لپاره يو پروګرام جوړ کړي. دا پروګرام به د سپيانو لپاره د چرګانو د والګي په اړه د عمومي خبرتيا ورکشاپونه وي چي ټول استادان به يـې سـپيان وي. زه فکـر کوم چي د دې پروژې په عملي کولو سره به د افغانسـتان د عـامي روغتيـا پـه وزارت کي ډېرو سپيانو ته کارونه پيدا شي. دا خو د افغانستان د سپيانو خبـري وې. خو زماسره په نړيواله کچه هم د سپيانو د ژوند په اړه يو جامع پلان شـته. موږ بايد د نړۍ د ټولو سپيانو د خپلـواکۍ، بقـا، هوسـايني او نېکمرغـۍ لپـاره مبارزه وکړو. همدا اوس په ايران کي د سپيانو لپاره يو زندان جـوړ شـوی دی. موږ بايد د دې زندان د له منځه وړلو لپاره د ژوند تـر وروسـتۍ سـلګۍ پـوري خپلي مبارزۍ ته دوام ورکړو. زه باور لرم، چي موږ بـه پـه دې لار کـي خامخـا بريالي کېږو. د ايران دولت بايد پوه شي چي دوی سپي په زنـدان کـي اچـولي دي. سپي خدای پاک هم دوزخ ته نه اچوي، نو د ايران دولت څه حق لري چي د سپيانو لپاره زندان جوړوي؟ دا خو انسانان نه دي چي پـه ګوانټنـامو کـي بـه بنديان وي او له هر ډول انساني قانون پرته به شکنجه کېږي او هيڅوک به يـې نه پوښتنه کوي او نه د چا زور په رسېږي. امريکايان خو دا هم وايي چـي اصـلاً داسي انساني قانون نشته، چي د دې خلکو د حقوقو دفاع وکړي. زه امريکايـانو ته دا حق ورکوم، چي انسانان د ګوانټنامو پـه زنـدان کـي د سـپيانو پـه شـان وساتي، ځکه انسان پوه شه او قانون يې، خو زه به انسان، پـه تېـره بيـا د ايـران دولت ته هيڅکله دا حق ورنه کړم، چي د ګوانټنامو د زندانيانو پـه شـان سـپي بنديان کړي. د نړۍ سپي نه يـوازي دا چـي بايـد خپلـواک، هوسـا، باوقـاره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکمرغه ژوند ولري، باید تر مړیني وروسته هم په ډېر درناوي خاورو ته وسپارل شي او جلا هدیره ولري. له نېکه مرغه چې اوس هم په نړۍ کې د سپیانو هدیرې موجودي دي، چې همدا اوس د نړۍ د سپیانو تر ټولو لویه هدیره په روسیه کې ده، چې څلوېښت زره سپي په کښې ښخ شوي دي. تر دې وروسته باید د نړۍ ټول سپي تر مړیني وروسته په ډېر درناوي خاورو ته وسپارل شي، نه دا چې د افغانستان غوندي په ډله ییز ډول ژوندي ښخ او یا تر ډله ییزي وژني وروسته په یوه قبر کي واچول شي. موږ باید د انسانانو غوندي له خپلو همجنسو او عزیزانو سره دومره لوی ظلم ونه کړو، چې د سپیتاني تاریخ په وشرمېږي.

چارچشمه چي تر دې وخته یې په خورا دقت د جیټ خبرو ته غوږ ایښی و او له ډېري خوشالیه یې پر مخ اوښکي رابهېدلې، ناڅاپه له یوه لوی غپ سره ټوپ کړه او د جیټ په غاړه کي یې د مخ دوې پښې ورواچولې او ورته ویې ویل: ګرانه دوسته ! ته واقعاً چي د نړۍ د سپیانو لپاره ستر ارمانونه او ښه نیت لرې، زه به د مرګ تر اخري شېبې پوري په دې مبارزه کي ستا تر څنګ ولاړ یم او زه باور لرم چي موږ به خامخا یوه ورځ بریالي کېږو.

ګرانه ملګریه ! راشه چي په دې ویاړ نن شپه تر سهاره په زوره- زوره وانګولو او په دې ډول انسانانو ته دا وښیو چي وګورئ ! دوه سپیان له سیمه ییز، قومي، رنګ، نژاد او داسي نورو توپیرونو سره- سره د نړۍ د ټولوسپیانو د خپلواکۍ، نېکمرغۍ او سرلوړۍ په نیامت سره یو موټی شول. تر دې وروسته جیټ او چارچشمه تر سهاره په زوره- زوره وانګولل او په ارګ کي یې هري خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډې ووهلې، خو دوی نه چا ولیدل او نه یې د دوی انګـولاوي واوریـدې، لکـه چې د افغانستان واکمنو ته کوم مظلوم پښتون دا ښېرا کړې وي چې: ”پر مېنه دې تور سپی وانګوله“.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سوغات غوټه★

دا مي لومړی ځل و چي پاکستان ته تلم او هغه هم د کراچۍ غوندي لوی ښار ته. کله چي له کوره روانېدم، نو مېرمني مي په بکس کي د کالیو تر څنګ یوه بله کوچنۍ غوټه هم راکښېښوولو او راته ویې ویل چي دا غوټه به په کراچۍ کي زما خور ته ورکړې. کله چي د موټرو تمځای ته راغلم، نو کلینر زما بکس د موټر پر سر وتاړه او زه په موټر کي دننه کښېناستم. په کراچۍ کي د خوښيني د کور پته راسره وه او هلته مي نور خپلوان هم درلودل، خو زما لویه ستونزه دا وه چي په اردو ژبه نه پوهېدم.

کله چي موټر کراچۍ ته نژدې شو، نو دغه مهال زه خوب وړی وم. څنګ ته ناست یوه سړي وښورولم او ویې ویل چي ورشه پولیسان دي غواړي، وایي بکس دي راخلاص کړه، تالاشي کوي یې. د پولیسو دغه پوسته (حب چوکۍ) نومېده چي خورا سخته تلاشي یې کوله. تر څو چي زه له موټر څخه راکښته کېدم، نو څو تنه پولیسان لکه سېرلیان د موټر سر ته ورختلي دي، د سپرلیو غوټې او بکسونه یوې او بلي خوا ته سره اړوي. دا لا بلا ورپسې، یوه پولیس د ناځوانه زوی زما بکس خلاص کړی او یو ډول سپین پوډر په لاس کي سره موښي. ما اورېدلي ول چي پاکستاني پولیس د خلکو په جېبونو کي چرس، تریاک، یا پوډر وراچوي، بیا یې په دې تور نیسي او پیسې ځني اخلي. اوس چي

★دې طنز د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په ۱۳۸۳ل کال کي جایزه ګټلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي دغه پوډر وليدل، نو خدای شته چي تراه مي وشوه او له ډېري وېري مـي د بدن وېښتان جګ- جګ ودرېدل. ما ويل ياره لکه چي په بلا واوښتې.
پوليسانو هم ډېر بد- بد راته کتل او داسي يې ښوول چي په لاس خو راغلې. په لومړي سر کي زما په زړه کي هم اندېښنه وه، چي دغه سپين پوډر به هيرويين وي، خو کله چي ورنژدې شوم او هغه مي په ګوتو کي سره ومومښل، نو پوه شوم چي د ښځو د مخ سفېده ده. پوليسو ته چي مـي هرڅـومره سـفېده- سـفېده وويل، هغوی زما په خبره پوه نه شول. بيا مي وويل چي پـوډر- پـوډر. صـاحبه مهربانه د پوډرو ويل به څه و چي يو اور مي ځان ته ولټاوه. د پوليسو يو ډلګــۍ مشر، چي خېټه يې يو فټ مخ ته وتلې وه او تور مخ يې داسي برېښــېده، لکـه د سبزيجاتو يو دوکاندار چي پر تور بانجڼ غـوړ لاس راتېر کـړي، سمدلاسـه يـې کوتک ته لاس کړ، سترګي يې راباندي راغټي کړې او ويـې ويـل: "اچها پـوډر هې !". ياره که ربښتيا ووايم، نو په دې وخت کي لاره او ګودر راڅخه ورک شـو، حيران وم چي اوس دا د ظالم زوی پوليس ښکه پوه کړم؟ اخر مجبور شوم، يو څه سفېده مي په خپل مخ پوري ومومښله او پوليسو تـه مـي پـه اردو ژبـه ايلـه دومره وويل: "لېډيز کېليې !". پوليسو چي راته وکتل، نو نابېره ټول پـه خنـدا شول او ويې ويل: "اچها ټهيک هې". دا چي موټر راڅخه ته، نو مـا هـم دومـره وخت پيدا نه کړ چي له مخ څخه سفېده پاکه کړم. غوټه مي ژر- ژر سـره ټولـه کړه او موټر ته وختم. د موټر سپرليو چي راته وکتل، نو ټـول پـه خنـدا شـول. هغوی داسي ګومان کاوه چي ګواکي زه پوليسو په دې رنګ ولړلم، ويل کاکـا !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې څه درباندي وکړل؟ ما ويل بس نـو څـوک چـي ناليـدلی سـوغات وړي، دغسي به ورپېښېږي.
کله چي مي په هنداره کي خپل مخ وکوت، نو پر توربخن مخ او توري ږيري مي سفېدې يوه داسي منظره جوړه کړې وه چي له نورو خلکو سره زه هم په خنـدا شوم. ما کلک هوډ وکړ چي تر څو مي خپلي ګراني خوښيني ته سفېده نـه وي وررسولې، ولاکه له مخ څخه سفېده پاکه کړم. ما او د موټر سپرليو تر هغـو پـه ګډه خندل چي له موټره کښته کېـدلو. کلـه چـي مـي د خوښـيني د کـور ور وروټکاوه، نو زما د خوښيني کوچنۍ لور راووتله. کله چي يې ماتـه وکتـل، نـو ببرته په منډه کور ته ولاړه. يوه شېبه وروسته زمـا خوښـينه د دروازې شـا تـه راغله او ويې ويل: وروره ته څوک يې او څوک دي په کار دی؟ ما ويل ته ما نـه پېژنې؟ زه ستا اخښی حاجي فريد يم. خوښيني چي مي دا خبره واورېـده، نـو ويې ويل: وی چي حاجي فريد يې، نو دا مخ دي په څه شي لړلی دی؟ ما وويل دا خو ځکه چي تاته مي سفېده راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سرکار غاتري★

دا لومړی ځل و چي محبس ته په دريشيو کي خلک راوستل شول او سياسي بنديان يې بلل. دوی له بنو څخه پوه، مهذب او د پاخه عمر خاوندان ښکارېدل. يوازي دريشۍ نه، بلکي د خبرو لهجه، ناسته، ولاړه او نور کړه- وړه يې هم ګردسره نابلده ول. تر دې مهاله چي ډېرو خلکو لا د سياست نوم هم نه و اورېدلی، د سياسي بنديانو خبره رښتيا هم چي ډېره نوې وه.

محبس خورا لوی و، خو په ډېر لږ وخت کي د سياسي بنديانو خبره، د هر بندي غوږ ته ورسېده او په ډلو- ډلو بنديان، د دغو نويو بنديانو پر شا و خوا راټول شول او ټولو داسي په ځير- ځير ورته کتل، ته چي وايې دغه خلک د ځمکي له کرې نه، بلکي له بل ستوري څخه راغلي دي. يوه شېبه وروسته يوه بندي ډېر سوکه وپوښتل: تاسي څوک ياست؟

يوه سياسي بندي ځواب ورکړ: موږ سياسي بنديان يو.

د بنديانو د زړه غوټه بيا هم خلاصه نه شوه، د پخوا په ډول د سياسي بنديانو په ټکي ونه پوهېدل او په ډېري حيرانتيا يې دغه کلمه په خپلو منځو کي سره تکرار کړه: سياسي بنديان ! سياسي بنديان !... سياسي بنديان يې بيا خنګه وي؟

---

**★غاتر: قاطر، کچر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بندي وويل: له دريشيو ځخه خو ټول د سرکار خلک معلـومېږي، سياسـي بنديان به نو همدغه سرکاري بنديانو ته وايي.

بنديان ځو شېبې په خپلو منځو کې سره وبوږېدل او د سياسي بنديانو په اړه يې يو له بل ځخه پوښتني او ګروېږني کولې، خو کله چي د دې ټکي پـه مانـا ونـه پوهېدل، نو يوه بندي بيا لړ په زوره وپوښتل:

موږ په سياسي بنديانو منديانو نه پوهېږو، داسي راته ووايـاست چي په ځـه تـور يې نيولي ياست؟

ــبس اندېواله پوښتنه مه کوه، موږ ته خورا بده راپېښه ده.

ــرشوت مو خوړلی دی؟

ــنه بابا رشوت خوړل خو د زوی زېری دی.

ــله سرکار ځخه مو کوم شی غلا کړی دی؟

ــنه، تر غلا مو هم دوسيه درنه ده.

ــدوسيه مو ځنګه درنه ده، مړی خو به مو هم نه وي کړی؟

ــياره چي نه مو پر بېږدئ، اوس به يې نو درتـه ووايـو. خبـره دا ده چـي مـوږ د سرکار له کوره بدي کړې ده. ټولو بنديانو په حيرانتيا په يوه پلا وويل: د سرکار بدي ! د سرکار له کوره مو ځنګه بدي وکړه؟ يوه سياسي بندي وويل: بس نـور مه پسي ګرځئ.

د بنديانو خپلمنځي تبصرو يو زوږ جوږ کړ. يوه بندي د زړه سـوي پـه ډول پـه خوله چيک - چيک وکړ، سر يې هم ورسره وښوراوه او ځنګ ته ناست يوه بندي ته يې سوکه وويل: موږ او تاسي خو ښه يو، دا بېچاره ګان وګوره چي د سـرکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدي ورپه غاړه ده، هغه د پښتو يو متل دی چي وايي: "سرتوره ! بدي دي وکړه له لويه کوره". تر دې بدۍ چي دوی سرونه باسي، هغه د چا خبره: "توري هيلۍ به سپيني شي".

بنديانو چي به هرځومره په خپلو منځو کي تبصرې سره کولې، نو هغومره به يې په دې باب تلوسه او د پلټني تنده ډېرېده، چي له سرکار سره به يې څنګه بدي لوېدلې وي؟ يوه شپېه وروسته بيا يوه بندي وپوښتل: ښه نو له سرکار سره مو پر څه شي بدي ولوېده؟

له سياسي بنديانو څخه يوه تن خپل يوه ملګري ته اشاره وکړه او ويې ويل: دغه زموږ مشر دي خدای خوار کړي، ټوله د ده له لاسه چي په دې بلا يې اخته کړلو، کنه اوس به په خپل کور کي خوښ او خوشاله ناست وای. يوه ورځ پر لاري د سرکار غاټري تېرېدې، ده ويل راځئ چي سات مو درتېر کړم. يو ځای ورته پټ شولو، کله چي غاټري رانژدې شوې، موږ ټولو په يوه پلا ناره کړه چي اوخ ! غاټرو تور واخيست او يوې او بلي خوا ته وتښتېدې. کله چي سرکار په دې کار خبر شو، ويل ښه تاسي اوس دومره زړور شوي ياست، چي د سرکار غاټري توروئ. په دې سره غرمه کي ټول خلک ويده دي او تاسي ويښ ياست، نن تاسي دا کار وکړ، سبا بل څوک دا جرئت کوي او د سرکار غاټري توروي. يوه بله خبره يې هم راته وکړه چي تاسي ويښ زلميان ياست. هغه و چي ويې نيولو او دا دی اوس ستاسي سره بنديان يو.

د دې خبرو په اورېدو سره يوه بندي د زړه سوي په ډول وويل: بدبختانو ! تاسي د سرکار له غاټرو څه غوښتل؟ وايي بازي، بازي، به ريش بابا بازي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل بندي وويل: تاسي چي د زمري په لم لوبي کوئ، اوس نو دلته کښېنئ، کـه ټول عمر مو دلته تېر شو، نو هم يې زړه ته واچوئ.
يوه بل بندي خپل ښنګ ته ناست ملګري ته سوکه وويل: دا نو د قسمت خبري دي، ته ښه فکر وکړه، د سرکار غاتري چيري او دوی چيري ول، بيا يې نو ښنګه په زړه کي وروګرځېدل چي راځئ د سرکار غاتري وترهوو. بس نو په دغه کـار کي به يې خير و، تا نه دي اورېدلي چي وايي: "خدای خپل دوست ځوروي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایساف برګر

شپږ میاشتي کېدې چي په کابل کي مي رستورانټ جوړ کړی و. په دې شپږو میاشتو کي مي ولاکه یوه هم دوې شوي وي. د بربښنا، ټیلیفون او اوبو محصول، د تعمیر کرایه، د اشپزانو او شاګردانو معاشونه او نور لګښتونه مي ټول له خپله جېبه ورکول، ان دا چي پوروړی هم شوم. نور به نو څه درته ووایم، بس کور مي پر چرګه بار شو.

زه چي څه مهال په امریکا کي وم، نو له شا وخوا دوستانو به مي اورېدل، چي له افغانستان سره اوز (دومره) ملیارده ډالره بهرنۍ مرسته وشوه، افغانستان ته اوز کډوال راستانه شول، دا وشول او هغه وشول، بس هر څه جوړ شول. اوس په افغانستان کي تر لوېدیځو هېوادونو هم ښه کارونه پیدا کېږي، زده کړې، مسلک او تجربې ته چندان اړتیا نشته، هري خوا ته ډالر اوار دي، بس پټو ورته اوار کړه او راټولوه یې، په تېره بیا د کابل ښار خو اوس بېخي له اروپا سره برابر دی. دا به مي هم اورېدل چي پلانی افغانستان ته ولاړ، اوس یې خولۍ په غوړو کي ده، خورا کار یې جوړ دی. لنډه دا چي له هر چا سره به دي د افغانستان په باب خبره کوله، نو هغه د چا خبره پر ګوتو به یې کشمیر درته جوړ کړ.

یوه ورځ داسي راغله، چي ما هم د دغو ډالرو په راټولولو پسي پایڅې رابډوهلې او نېغ کابل ته راغلم. دلته چي مي شا وخوا وکتل، نو په کابل کي یو څو نوي جوړ شوي کورونه، هوټلونه او ګیسټ هاوسونه ( مېلمستونونه) هغه څه ول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سړي يو څه سترګه په ډکېده. بس ما هم توکل پر خدای ياد کړ او هغه يو څو خوش مړي ( پيسې) چې مي په خپله غوټکۍ کي له ځان سره راوړي وې، د کابل په ښار کي يو رسټورانټ په جوړ کړ. د رسټورانټ چندان خوند نه و، ټوله ورځ به مي له بېکاريه مچان شړل او يو په بل پسي به مي اررمۍ کښلې. کله چي به مي زړه ډېر تنګ شو، نو په کابل کي به زما بهرني انډيوال ( مايکل) ته ورغلم او د زړه خواله به مي ورسره کوله. مايکل مي د امريکا له وختو انډيوال و، ما هلته په يوه هوټل کي چرګان پاکول او مايکل د چرګانو په يوه فارم کي مزدور و او موږ ته به يې چرګان راوړل، خو اوس د افغانستان په يوه وزارت کي مشاور و چي لس زره ډالره معاش يې درلود.

يوه ورځ مايکل راته وويل: " که ما درسره شريک کړې، نو زه دا رسټورانټ پر خپلو پښو درولای شم. خو شرط يې دا دی چي زه هر څه درته وايم، ته به هغسي کوې. زه چي سېل اخيستی وم او ځګ ته مي لاس اچاوه، له خدايه مي دغسي ورځ غوښته. سمدلاسه مي دغه خبره ورسره ومنله. ټولو ټلوېزيونونو، راډيوګانو او ورځپاڼو ته مو اعلانونه ورکړل چي (افغان رسټورانټ) د خرڅ لپاره داوطلبۍ ته وړاندي کېږي. که څه هم تر يوې اوونۍ پوري زموږ سره هيڅا اړيکه ونه نيوله، خو موږ بل ځل داسي يو اعلان خپور کړ: "افغان رسټورانټ يوې خارجي کمپنۍ رانيوه چي تر دې وروسته به يې نوم (ايساف برګر) وي او په عصري ډول به جوړ يږي.

په لومړي ګام کي مو د رسټورانټ بڼې او ډيکوربشن واړاوه. يوه لويه ډيجيټل لوحه مو ورجوړه او ايساف برګر مو پر وليکه. د استاد بهزاد او نورو ختيځوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



استادانو د نقاشۍ تابلوګاني او انځورونه مو ليري او پر ځـای مـو يـې د هنـدي فلمي ستورو، مېرمني ډيانا او مايکل جکسن انځورونه وځـړول. انځورونـه ښـه غټ او ځيني يې نيم لغړ ول، چي ډېر ژر يې د سړي پام ځانته رااړاوه. پغمان ته ولاړو، يو ترکاڼ مو هم له ځان سره بوت. هلته مو د نر توت څو ونـې رانيـولې او تنې مو يې داسي اره کړې، چـي د ډوډۍ خوړلـو لپـاره د ګرديـو مېزونـو کـار ورکړي. پر هر مېز مو يوه يوه شمع ولګوله. د رسټورانټ هغه برخه مو له منځـه يووړه، چي هلته به ښځو جلا ډوډۍ خوړله. ټلوېزيون مو پر(V) چينل برابر کړ. د رسټورانټ دباندي مو هم دوه لوډسپېکرونه ولګول چي لارويان يې هم اوازونـه واوري. د هوټل په منځ کي مو د اوبو يوحوض ګوټې جوړ کړ او په منځ کـي مـو يې د مېرمني ډيانا مجسمه جوړه کړه چي ټوله لڅه، خو لاندينۍ ډېره برخه يې په اوبو کي پټه وه. څنګ ته مو يې پر يوه لوحه په فارسي او انګرېزي ژبو د هغې ژوندليک وليکه.

کله چي مو رسټورانټ پرانيست، نو مايکل راته وويل چي ته خلک څاره چـي د رسټورانټ په باب څه وايي؟

لومړۍ ورځ مي دوه ځوانان وليدل چي نوي کاوبای پتلونونه يـې اغوسـتي او د رسټورانټ مخ ته ودرېدل. يوه هغه بل ته وويل: به بـه ! چـی يـک رسـتورانت خارجی است، اينجا چی چيزها خواهد بود، کاشکی پيسه می داشتيم که اينجا غذای خارجی می خورديم. يوه يې د رسټورانټ د موسـيقۍ سـره سـر او اوږې وښورولې او روان شول. تر دې وروسته رسټورانټ ته د خلکو راتـګ پيـل شـو، هرڅوک چي به راته، نو لومړی به مجسمې او پر دېوالونو ځړول شويو انځورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ودرېد او بیا به پر څوکۍ کښېناست. یوه نجلۍ، چي تنګ پتلون يې اغوستی او وېښتان يې ژېړ رنګ کړي ول، له یوه ځوان سره رسټورانټ ته راغله. لـومړی يې ما او بیا يې د رسټورانټ شاګردانو ته وکتل، د خپل ملګري غوږ ته يې خوله ورنژدې کړه او په ترېو تندي يې وویل: "ای چه قسم رستورانت خارجی است؟ او مرد که ره سیل کو که سر پارچال ششته، شاګردایشه سیل کو، ای خو کلش افغانهای ما و شماست". له دې خبري سره د دواړو تندي تریو او له رسـټورانټ څخه ووتل.

د شپې یوولس بجې وې، مایکل راغی او په خندا يې راتــه وویـل چــي نــن ورځ څنګه تېره شوه؟ ما د ټولي ورځي کیسه ورته وکړه، خو کله چــي مــي د هغــي نجلۍ او هلک خبره ورته یاده کړه، نو مایکل لاندینۍ شونډه تر غاښونو لانــدي کړه او م م م... يې وویل. له دې سره سم يې دواړه لاسونه د پتلانه پــه جېبونــو کي ننه ایستل او د رسټورانټ تر پایه په کوچنیـو قـدمونو ولاړ او بېرتــه راغــی. داسي ښکارېده، لکه د یو څه په باب چي چورت وهي. تر لږ ځنډ وروسته يې په خندا زما پر اوږه لاس کښېښود او راته ويې ويل: ته غم مه کوه، ما يې چاره پیدا کړه، سبا به په دې باب پوره معلومات درکړم، اوس زه ځم چي یوه مهمه غونډه لرم.

په دغه شپه له ډېري خوشالیه خوب نه راته، ما ویل یاره لکه چي بخـت یــاري درسره وکړه. سبا مایکل له درېیو نفرو سره زما د اوسېدو کوټې ته راغــی او پــه خندا يې خپلو ملګرو ته اشاره وکړه چي دوی به تر دې وروسته زموږ سـره کــار کوي. دی امریکایي دی چي ( مارک ) نومېږي او له ایساف سـره د ترکــانځ پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت کار کوي، خو اوس يې د يوې مياشتې لپاره رخصتي اخيستې ده. مارک به پر پارچال ناست وي او له خلکو به پيسې اخلـي او دغـه دوه هلکـان افغانـان دي، دغه يو نجيب او دغه بل فريد نومېږي. د دوی کورنۍ يې په دې وروسـتيو کې له انګليستان څخه په زوره راشړلې دي. له انګليسي خبـرو يـې ځـوک نـه پوهېږي، چې ګواکې دوی افغانان دي. تر دې وروسته به د نجيب نوم (ټام) او د فريد نوم ( مکس) وي. دوی به د رسټورانټ شاګردان وي، ځانګړې دريشۍ بـه اغوندي، يوازې به په انګرېزي ژبه خبرې کوي او هيڅ ته به نه وايي چې مـوږ افغانان يو. ما هم دا خبره ورسره ومنله او دغـه درې نفـره مـې رسـټورانټ تـه بوتلل.

تر دې وروسته زموږ رسټورانټ ته د خلکو راتګ نور هم ډېر شو، ډېرو خلکو بـه هڅه کوله، چې له مارک، ټام او مکس سره ډېرې خبرې وکـړي او د انګرېـزۍ ژبې تمرين وکړي. مايکل به هم کله ناکله ځيني بهرنيان له ځانه سره راوستل او له ځان سره راوړي بهرني خواړه به يې همدلته خوړل.

يوه ورځ درې تنه ځوانان او يوه نجلۍ، چې د نادولتي ټـولنې مـوټر ورسـره و او خورا لوکسې دريشۍ يې اغوستې وې، رسټورانټ ته راغلل. د خوړو مينيو يـې راپورته کړه، وايې ړوله، راوايې ړوله، په تريو تندي يې يو بل ته وکتـل او بېرتـه ولاړ شول، په تلو تلو کې يوه وويل: "اينجا خو هيچ غذای خارجی نيست، فقـط همو غذای وطنی خود ما و شما است، که در هر رستورانت پيدا ميشه".

تر دې وروسته مو د خوړو مېنوګانې په انګرېزي ژبه جـوړې کـړې او ټـول مـو بهرني خـواړه پـه کښـې وليکـل. ځينـو خـوړو تـه مـو وليکـل: ( Not for

(c) ketabton.com: The Digital Library



Muslims). مراجعينو ته به مو ويل چې زموږ د رسټورانټ ټول خواړه له بهره راځي.

په بګرام کې د امريکايانو او ايساف نظامي ځواکونو هغه تر وخت تېر خواړه، چې هغوی به غورځولي ول، موږ بېرته راټولول، لـه کڅـوړو او کوتيـو څخـه بـه مـو رااېستل او بيا به مو د بهرنيو خوړو په نوم خرڅول، چې په دې کار سره زمـوږ د رسټورانټ مراجعين دوه برابره شول. تر دې وروسته دغو خوړو هم کفايـت نـه کاوه، بيا مو دغه ډول نور بهرني خواړه، چې په کابل کې د زرنګـار پـارک او پـل خشتي جامع جومات مخ ته خرڅېدل، يوځايي رانيول، خو بيا يې هم زموږ اړتيا نه پوره کوله.

زموږ ډېرو مراجعينو غوښه غوښته، په تېره بيا کباب. که څېري مو غوښه خپله کبابولای او بيا مو د بهرنيو خوړو په نوم خرڅولای، نو رسوا کېـدو، ځکـه کـه د چرګ، پسه، وزې او غوا غوښه مو هـر ډول پخـه کـړې وای، نـو د نـورو افغـاني رسټورانټونو غوندې به وای. اوس موږ ته يوازې يوه لار پاتې وه، هغه دا چـې د اوښ غوښه کباب کړو، ځکه دا يوازينۍ غوښه وه چې ښاري خلکو نه پېژنده. د دې کار لپاره مو يو قصاب او دوه مزدوران استخدام او په ښرخي پله کې مـو يـو کور ورته ونيو. قصاب به په دغه کور کې اوښان حلالول، موږ ته به يـې پـه پټـه غوښې رالېږلې او موږ به کبابولې.

تر دې وروسته زموږ په رسټورانټ کې مراجعين نه ځايېدل، د رسټورانټ څنګ ته ځمکه مو هم رانيوله، چې ډېرى مراجعين بـه هلتـه کښېناسـتل. يـوه ورځ مايکل څلور بهرنۍ نجوني راوستلې او ماته يې وويل چې دوی به مراجعينو تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ ړدي. اوس نو د ټولو خلکو پوره باور راغی چې په رښتیا دا یو بهرنی رستورانټ دی. دغه ډول مو د رستورانټ پر دروازه ولیکل: " له هغو مېلمنو معذرت غواړو چې دریشۍ یې نه وي اغوستي" او د پارچال ځنګ ته مو ولیکل: "یوازي امریکایي ډالر منل کېږي". دغه ډول مو هغه مېلمانه هم رستورانټ ته نه پرېښوول، چې د هویت کارډ (پېژندپاڼه) به یې نه درلوده. اوس زموږ رستورانټ ته د افغانانو ترڅنګ بهرنیان هم راتلل چې ډېرو به کباب غوښت. وروسته زموږ کباب دومره مشهور شو، چې ان د نادولتي ټولنو، سفارتونو او ارګ له خوا به هم فرمایشونه راتلل. اوس مو د ورځې لس اوښان حلالول، د یوه قصاب پر ځای مو پنځه قصابان او ورسره لس مزدوران ونیول.

یوه ورځ مو د رستورانټ پر دروازه په انګرېزي ژبه غټ ولیکل: "دا د خوراک نه، بلکي فرمایش ورکولو ځای دی او یوازي د نادولتي ټولنو، سفارتونو، بهرنیو نظامي ځواکونو او ارګ فرمایشونه مني". په دې ډول مو نه یوازي دا چې د کباب بیه دوه برابره لوړه کړه، بلکي کار مو هم ډېر اسانه شو.

یوه شپه مایکل خپلي کوټې ته، چې د کابل په انټرکانټیننټل هوټل کي و، وروغوښتم. کله چې ورغلم، نو په خندا یې مخته رامنډه کړه، په غېږ کي یې ونیولم او راته ویې ویل: "عزیز جانه مبارک دي شه ! هغه دولتي هوټل، چې د اجارې لپاره داوطلبۍ ته وړاندي شوی و، د یو ملیون ډالرو په مقابل کي د شلو کالو لپاره موږ ته راکړل شو. زه خو فکر کوم چې دا هوټل مو ډېر ارزانه اجاره کړ، بس داسي یې وبوله، لکه اوبو چې راوړی وي. زه چې د هوټل ځای، پراخوالي او لوړ شهرت ته ګورم، نو باور لرم چې موږ ته په شپږو میاشتو کي یو ملیون ډالره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راګټلای شي او يو مليون ډالره خو دا دي موږ او تاسي په يوکال کي پــه ايســاف برګر کي هم وګټل".

مايکل لږ رانژدې شو او په خندا يې زياته کړه: ګڼ شمېر افغاني پانګــه وال هــم داوطلبۍ ته حاضر شوي ول، ان دا چي تر موږ يې په لوړه بيه اجاره کاوه، خــو د هوټلونو د تصدۍ رئيس راته وويل چي دا هوټل تاته له سياليه پرتــه پــه اجــاره درکوم، ځکه چي ته مي د امريکا له وختو انډيوال يې، خو په دې شرط چي پــه يوه ونډه يې ما هم شريک کړې". مايکل د قهوې ګيلاس راپورته کړ او زياته يې کړه: "عزيزجانه ! ته به نو د هوټلونو د تصدۍ رئيس نه پېژنې، هغه مهال چــي زه او ته په نيويارک کي وو، ده په مارننګ برګر (Morning Berger) کــي چرګان پاکول او ما به زموږ له فارم څخه چرګان وروړل، بس هلته مي انــډيوال شو. کله چي په افغانستان کي د تراهګرۍ په وړاندي مبارزه پيل شــوه، نــو دی هم زموږ او ستاسي په شان افغانستان ته راغی".

د برېښنا سپين څراغ ته د مايکل شنې سترګي وبرېښېدې، زمــا غــوږ تــه يــې خوله رانژدې کړه او ويې ويل: د هوټلونو د تصدۍ رئيس راته وويل دولت په پام کي لري چي دغه تصدي خصوصي کړي. تــه ډاډه اوســه، هغــه داوطلبــي هــم خامخا تاسي ته درکوم، خو په دې شرط چي زه به هم درسره شريک يــم. خــو ګوره عزيزجانه ! پام چي دغه خبره چاته ونه کړې. تر دې وروسته مايکل، لکــه ماته چي ډاډ راکوي، زما پر اوږه لاس کښېښود او راته ويې ويل: ته هيڅ غم مــه کوه، د اوښ د کباب تجربه به زموږ سره ډېره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موبايل په قبر کي هم ډېر ښه کار کوي !

په هغه ورځ چي ما نوی موبايل رانيولی و، نو زموږ په کور کي داسي خوشالي جوړه وه، لکه د مودو- مودو مسافر چي خپل کور ته راستون شوی وي او خپلوان يې ورته خوشاله وي. زموږ د خوشالۍ لامل دا و چي تر دې وروسته به زما له ورور سره، چي له لسو کالو راهيسي په امريکا کي اوسېده، خبري کوو. زه چندان له موبايل سره بلد هم نه وم، ځکه چي نوی مي رانيولی و، خو بيا هم د هغو ابتدايي معلوماتو له مخي چي د کمپنۍ له مامور څخه مي د رانيولو پر مهال ترلاسه کړي ول، هڅه وکړه چي له خپل ورور سره خبري وکړم. له څو واره کوښښ سره- سره بيا هم ټيليفون رخ نه شو. زوی مي راته وويل چي زموږ ګاونډي اجمل ته زنګ ووهه، هغه پوره ورسره بلد دی، ښايي مرسته درسره وکړي. د اجمل نومره چي مي دايره کړه، نو دا کمپيوټري پيغام مي واورېد: "دغه نومره د اوس لپاره کار نه کوي او يا کېدای شي چي له ساحې څخه دباندي وي".

لومړی مي داسي فکر وکړ چي رښتيا به هم اجمل له ساحي څخه دباندي وي، خو دويم ځل چي مي نومره دايره کړه، نو اجمل رخ سو، خو اواز يې داسي ټيټ و، لکه د ځا له تل څخه چي خبري راسره کوي. کله چي د موبايل پردې (سکرين) ته ځير شوم، نو ګورم چي سم انتن نه ورکوي. زه په دې نيامت چي موبايل سم انتن ورکړي، له کوټې څخه راووتم، موبايل مي غوږ ته ونيو او ومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل: بلې ! بلې ! اجمله غړ دي پرې- پرې کېږي. ما لا دا جمله نــه وه بشــپړه کړې، چې د موبایل اواز غوڅ شو. په دې مهال کې مې پام شو چې اجمل هم د کور غولي ته راوتلی دی او زما د پوښتنې په ځواب کې وایي: بلې ! بلې ! تاســې څوک یاست او له کومه ځایه خبري کوئ؟
ما چې د اجمل خبري واورېدې، نو سوکه مې ورته وویل چې اجملــه ! زه اکبــر یم، د دېوال له شا څخه خبري کوم. لنډه دا چې ما او اجمل په ګډه ډېره هڅــه وکړه چې کومه نومره رخ کړو، خو موبایل ویل، خدای او مالګې تــروې دي کــه رخ شم. اخر مې زموږ کور ته نژدې له یوې ټیلیفون خانې (پــي ســي او) څخــه خپل ورور ته ټیلیفون وکړ او د نوي موبایل نومره مې ورکړه. هغه راته وویل چې تر دې وروسته به زه ټیلیفون درته کوم، ته کور ته ولاړ شه، زه همدا اوس زنــګ درته وهم. زه چې کور ته ولاړم، نو دوه ساعته مې انتظار وکړ، خو ورور مې زنګ راته ونه واهه.
په دې وخت کې مې په غوږونو کې یو عجیبه غوندې کړنګ شو. له کړنګ سره سم ګورم چې توره تیاره ده، چې ستر ګې به مې پټې کړې او کــه بــه مــې رڼــې کړې، نو یو ډول تیاره بــه وه. مــا غوښــتل چــې راکښــېنم، خــو پښــې مــې نــه راټولېدې، لاسونه مې هم له ځنګو سره غځېدلي پراته ول، چــې هــر څــه مــې وکړل، نو نه راټولېدل. زه نه پوهېدم چې چېرې یم؟ تر ډېر فکر او پښــو او لاس وهلو وروسته پوه شوم چې په قبر کې پروت یم. له ډېرې وارخطایۍ څخه لړزه راباندې راغله، د تن وېښتان مې جګ- جګ ودرېدل. له ځانه ســره مــې وویــل چې یا خدایه ! زه څه مهال او ځنګه مړ شوم؟ زه خو ناروغه نه وم او له چا ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي کومه دښمني هم نه درلوده چي وژلـی بـه يـې يـم. بيـا مـي پـه زړه کـي راوګرځېده، چي ښايي په زلزله، د موټر ټکر او يا داسي بله پېښـه کـي بـه وژل شوی يم. پر خپله حافظه چي مي هر څه زور راوست، نو بيا هم پوه نه شوم چي زه څنګه مړ شوی يم؟ بس دومره پوه شوم چي تازه مړ شوی يم، ځکه چي روغ رمټ وم. پښې او لاسونه مي ښورولای شوای، خبري مي هم کولای شـوای، ان دا چي څو واره مي په زوره- زوره چيغي کړې، خو هيچا وانه ورېدې. چي غـوږ مي ونيو، نوما هم هيڅ وانه ورېدل، چوپه چوپتيا وه. له ځانه سره مي وويل چي زه خو اوس ژوندی يم، بايد له قبره ووزم، خو څنګه ووزم؟ له يـوې خـوا د قبـر ډوری (لحد) تنګ و او له بلي خوا تابوت دومره تنګ و چي لاسونه مي هـم نـه شوای راټولولای. کله چي په زور څه لاسته رانغله، نو دې پوښـتنو مـي بيـا پـه مغزو خولې ولګولې چي زه څنګه مړ شوم؟ بيا اوس څنګه بېرته راژوندی شوم؟ عجيبه غوندي مرګ خو دی ! مړينه او بېرته راژوندي کېدل مي څومره اسـانه دي او دا نکير او منکر ملايکي کله راځي؟ عجيبه خو لا دا چي کفن مي هم نـه درلود، بلکي له کاليو سره يې ښخ کړی وم. داسي فکر مي وکړ چي شهيد شوی به يم، چي له کاليو سره يې يو ځای ښخ کړی يم. بيا به مي ويل چي ښايي يـو چا به نشه کړی او بيا به يې ژوندی په قبر کي ايښی يم. زه په همدې چورتونـو کي ډوب وم چي د موبايل زنګ راغی. ياره له ډېري خوشاليه مي زړه باغ- بـاغ شو. ما ويل شکر، خدايه چي موبايل يې هم په هېره کي راسره ښخ کـړی دی. ما ويل که هر څوک و، ورته وبه وايم چي د خدای لپاره ما دروکاږئ، زه ژونـدی يم. که بيا هم کار و نه شو، زه به خپله يو چاته ټيليفون وکړم. په دې وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي هغه خلک پړ وګڼل، چي د خپلو موبايلونو په باب ګيلې لري. ښايي دا بـه د ځينو خلکو نابلدي وي، چي زما په شان يې کور په کابل کي د اسمايي غره پـر سر دی او بيا يې هم کله موبايل انتن نه ورکوي او کله يې بيا اواز صاف نـه وي. که نه نو دا دی موبايل خو تر ځمکي لاندي په قبر کي هم ډېر ښه کار کوي.

خو له بده مرغه چي موبايل مي د بغل په جېب کي و، هر څه چي مي کوښــښ وکړ، نو لاس مي نه راټولېده، چي موبايل ته ورسېږي. پرلـه پســې څـو زنګونـه راغلل. خو زما له لاسه څه نه کېدل. خدای خبر چي کوم شله بـه و، شـپږ اووه ځله يې زنګونه راووهل. د زنګونو پر مهال به مـا پـه قبـر کـي پښــې او لاســونه ښورول، چي په يو ډول د موبايل د (ON) يا چالانېـدو تڼـۍ کښـېکاږم چـي موبايل رخ شي، خو زما له توره بخته موبايل رخ نه شو، چي په دې وخـت کـي مي مېرمني وښورولم ويل: سړيه کښېنه ! ولي داسي ناارامه يې؟ په خوب کـي وېرېدلې، که څنګه؟ کله چي له خوبه راکښېناستم، نو د زړه له کومي مي دا دعا وکړه چي: ياخدايه ته خو د موبايل ټيليفون مخترع وبخښې ! که د موبايل زنګ نه وای راغلی، نو زما مرګ حاله خوب به تر سهاره دوام موندلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي بسونه او ملي شخصيتونه

ايا تاسي دولتي ټيلويزيون ګورئ؟

د اطلاعاتو او کلتور وزير بې له دې چي د دې بېړنۍ غونډې اجنډا اعلان کړي، دغه پوښتنه راپورته کړه.

د غونډې برخه والو د دغې ناڅاپي پوښتني په اورېدو وارخطا- وارخطا يو بل ته وکتل. د وزارت مشاور، چي سګرېټ يې په لاس کي و او د موټر د سايلنسر غوندي يې تر خوله لوګي ختل، په بې اعتنايي وويل: هو ! زه يې کله ناکله ګورم. ورپسې فرهنګي معين  ستر ګي سره و موښلې او ويې ويل: زه يې هم په اوونۍ کي يو يا دوه ځله ګورم، خو دومره حوصله نه لرم، سمدلاسه مي ستر ګي وسوځي او اوښکي وکړي. نشراتي معين چي غاښونه يې نه درلودل، پسته خوله وچړپوله  او ويې ويل: که رښتيا ووايم، نو زه يې هيڅ نه ګورم. اداري معين، چي پر ملا کړوپ ناست و او پرله پسې يې ټوخل وويل: زه خپله بهرني ټيلويزيونونه ګورم.

وزير، چي تندى يې ګونځي ګونځي و او ژر- ژر يې ژبه پر شونډو تېروله، د ټلويزيون رئيس ته مخ ورواړاوه او د کنايې په ډول يې وپوښتل: ښايي تاسي به يې هم نه ګورئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټیلویزیون رئیس، چې خوله خبرو ته جوړوله، نو وزیر یې خبره ورپرې کـړه: بس بس زه پوهېږم چې ته یې هم نه ګورې. وزیر خپلې تسـبېح پـه لاس کـې سره وموښلې او ویې ویل : موږ تر اوسه د ټلویزیون په باب د خلکو پر شـکایتونو غوږونه کاڼه اچولي ول، چې دا دی نن خبره ان تر ولسمشره پورې ورسـېده. د دې خبرې په اورېدو د غونډې ټولو برخه والو له وارخطايۍ غوږونه بـوخ- بـوخ ونیول، یو بل ته یې وکتل او په ګډه یې وویل: څه شـی ! خبـره تـر ولسمشـره پورې ورسېده؟

نشراتي معین له خپلې څوکۍ څخه لږ راپورته شو او په اندېښنه یې وپوښـتل: ولسمشرڅه ویل؟ وزیر یو سوړ اسوېلی وکیښ او ویې ویل: د ولسمشر انتقاد دا و، چې خلک له دولتي ټلویزیون څخه ناخوښه دي، ټول خصوصي ټیلویزیونونه ګوري او تجاران هم خپل تجارتي اعلانونه دغو ټلویزیونونـو تـه ورکـوي. بایـد دولتي ټیلویزیون ملي شي، چې له خصوصي ټیلویزیونونو سره سیالي وکـولای شي او که سیالي نه شي کولای، نو موږ مجبوره یو، چې شخصي یې کړو.

اداري معین، چې تر دې مهاله بې تفاوته ښـکارېده، د چـایو ګـیلاس پـر مېـز کښېښود، په وارخطايۍ یې وزیر ته وکتل او ویې ویل : دا خبره خو رښتیا هـم، چې ډېره مهمه او د غور وړ ده، خو باید موږ لومړی پوه شو، چې خلک ولـې لـه دولتي ټلوېزیون څخه سر ټکوي؟ وزیر خپلې کته بیني عینکې پر سترګو کړې، مخ ته پرته دوسیه یې راپورته کړه او ویې ویل: د خلکو شکایتونه خو خورا ډېـر دي، مګر دا یو څو شکایتونه ډېر جدي يي او د غـور وړ دي، لکـه د ټیلویزیـون پـه اداري تشکیلاتو کې قومي انډول په پام کې نـه نیـول، پـه خپرونـو کـې د ژبـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب ته پام نه کول، ملي ټرمینالوژي نه مراعتول او یوازي دولت ته وچ تبلیغات کول.

د ټیلویزیون رئیس یوه لویه اررمۍ وکښله، څټ یې وګراوه او ویې ویل: زه فکر کوم چي زموږ په اداره کي د قومي نابرابرۍ پوښتنه بېخي نه پیدا کېږي. موږ په همدې خاطر ټول مامورین له یوه قوم او یوې ډلي څخه مقرر کړي دي، زما په فکر تر قومي انډول ملي روحیه ډېره مهمه ده، زموږ ټول کارکوونکي ملي روحیه لري، ځکه چي ټول دفتر ته په ملي بسونو کي ځي او راځي، ټوله ورځ د ټیلویزیون د دفتر په غولي کي ملي اتڼ کوي او دا چي بین المللي ټولني په ډېرو سختو شرایطو کي زموږ لاسنیوی کړی، نو موږ هغوی هم له یاده نه دي ایستلي، خپلو ټولو کارکوونکوته مو امر کړی، چي د ملي لباس پر ځای بین المللي لباس واغوندي او د ملي ټرمینالوژۍ پر ځای هم بین المللي ټرمینالوژي وکاروي.

د ټیلویزیون رئیس غوښتل چي د نورو انتقادونو په باب هم یو څه ووایي، خو نشراتي معین یې خبره ونیوله: زما په فکر د ژبو د توازن په باب انتقاد سم نه دی، ځکه چي په ټیلویزیون کي د ژبو توازن پوره په پام کي نیول شوی دی، د ټولو کارکوونکو ژبي یو ډول اوږدې دي، دومره اوږدې، چي ان یو رئیس له وزیر سره هم ژبه چلولای شي. دا خو لا څه چي د ټیلویزیون رئیس د ولسمشر فرمان نه مني او له خپلي دندي څخه نه لیري کېږي.

وزیر خپل پلاسټیکي غاښونه په خوله کي سم کړل، د ټیلویزیون رئیس ته یې مخ ورواړاوه او ویې ویل: د دې لپاره چي دولت ته د تبلیغ شکایت لیري شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ستاسي یاد وي، ما څه موده مخکي درته ویلي ول، چي د افغانستان د روان سیاسي او امنیتي وضعیت په اړه یو ځو ګردي مېزونه جوړ او یو ځو ازاد سیاسي خبرونکي ورته راوبوله. زه نه پوهېږم، چي هغه کار تر کومه ځایه پوري رسېدلی دی؟

د ټیلویزیون د رئیس ستونی له وارخطایۍ څخه وچ، ژبه یې بنده- بنده شوه او ویې ویل: هغه کار یو مخ خلاص شوی دی، ترکاڼ ته مي فرمایش ورکـړ، لـس داني ډېر ښه ګردي مېزونه یې راته جوړ کړل، بس یوازي ستاسي امر ته ګـورو، چي ځوک ورته راوبولو؟ د دې خبري په اورېدو د غونډې برخه والـو تـه خنـدا ورغله، خو وزیر تندی تریو او خپل اواز یې لوړ کړ: دا سمه ده چي موږ د خلکو د ټولو انتقادونو لپاره منطقي دلایل لرو، خو زموږ په باب د خلکو دغه ډول ذهنیت یو واقعیت دی. د دې واقعیت بدلولو لپاره یوازي زموږ خپلمنځي بحثونه ګټه نه لري، موږ باید په دې باب عملي ګامونه پورته کړو.

فرهنګي معین غاړي تازه کړې او ویې ویل: فکر کوم د ټولو انتقادونو تر منځ ګډ ټکی (ملي) کلمه ده. یاني ټیلویزیون ملي نه دی. د دې خبري په اورېدو سره د وزیر تندی لږ وغوړېده او د مشاور د خبرو په تائید یې وویل: اصلاً خبره همدغه ده. پخوا د نورو دولتي ادارو په باب هم دغه ډول شکایتونه موجود ول، چي ټول وزارت په یوې سیاسي ډلي، یوه قوم، یوې ژبي او یوې ولسوالۍ پوري اړه لـري، خو هغوی د ملي مسئوولیت په احساسولو سره ډېر ژر متوجـه شـول او خپلـي اداري یې ملي کړې، مثلاً ملي اردو، ملي پولیس، ملي امنیـت او داسـي نـوري اداري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټلویزیون رئیس داسي احساس کړه، چي د ستونزي حل ته یو څه نږدې شوی دی، نو پر شونډو یې یوه نرۍ خندا پیدا شوه، وزیر ته یې وکتل او ویې ویل: صاحب څه فکر کوئ، ایا موږ نه شو کولای د هغو نورو ادارو له تجربو څخه، چي ملي شوي ګټه واخلو؟

وزیر یوه شېبه پټه خوله شو، ورسره سم د غونډې په تالار کي چوپتیا خپره شوه، یوازي د وزیر د تسبو ټکهاری اورېدل کېده. وزیر د غرور په ډول د کوټې چت ته وکتل او په صاف اواز یې وویل: ماته د حل لاره معلومه ده،خو زه غواړم، چي ستاسي څخه هم په دې باب یو څه واورم. مشاور پر یوه او بل انډي شو، غاړي یې تازه کړې او ویې ویل: که د ټلویزیون یو څو مدیران، بې له دې چي زموږ خپلوان او زموږ په ډلي پوري اړه ولري، د خپل لیاقت له مخي استخدام کړو، ایا دا کار به د خلکو شکایتونه کم نه کړي؟

د ټلویزیون رئیس له دردہ سور واوښت او ویې ویل: زما په فکر دا د ملي مشارکت د اصل پرخلاف کار دی. د بن د تړون له مخي چي هر قوم او هري سیاسي ډلي ته کومه اداره په برخه وررسېدلې وه، نو د هماغي اداري ټول کارکوونکي له چپړاسي نیولې، بیا تر رئیس او وزیر پوري په دغه قوم او ډلي پوري اړه لري. موږ وینو چي دغه ډول اداري ملي بلل کېږي، نو که موږ د خپلي اداري قومي ترکیب ته تغیر ورکړو، دا سي نه وي، چي خدای مه کړه، زموږ اداره په ملي ضد اداره تورنه شي.

فرهنګي معین خپل نظر ورسره غبرګ کړ او ویې ویل: زه فکر کوم، چي د ژبو موضوع هم له قومي ترکیب سره اړه لري. دا چي ټلویزیون زموږ قوم ته راکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، نو باید د خپرونو ژبه یې هم زموږ په قوم پوري اړه ولري، ملي ټرمینالوژي یې هم دغسې درواخله.

مشاور د ژبو د توازن او ملي ټرمینالوژۍ په باب د فرهنګي معین دخبرو د تایید لپاره سر وښوراوه او ویې ویل: په دغه برخه کي زه هم تاسي ته ورته نظر لـرم، خوکه د سیاسي کارپوهانو ازاد بحثونه او مرکې ولرو، د خلکو دا انتقاد به لیـري شي،چي ګواکي دولتي ټیلویزیون یوازي د دولت په چوپړ کي دی. د ټیلویزیون رئیس وویل: زه خو وایم په دې برخه کي، چي موږ کوم نوښت کړی، نـو هـیڅ ټیلویزیون به نه وي کړی، د نورو ټیلویزیونونو د ګردیو میزونـو مېلمانـه ناسـت وي، خو زموږ دا ولاړ وي. دا خپله د دې مانا لري، چي موږ د بیان ازادي پر پښو درولې ده.که موږ د بیان د ازادۍ مخالف وای، نو اوس به زموږ مېلمانـه بیخـي پراته وای.

نشراتي معین چي تر دې مهاله یې د ټیلویزیون رئیس ته د سترګو پرځـای پـه خوله کتل، وویل: زه د ګردیو میزونو له تخنیکي جوړښت سـره بیخـي موافـق یم،خو ازاد سیاسي بحثونه به د ټلویزیون په بـاب شـکایتونه نـورهم ډېرکـړي، اوس هم د دې ټولو شکایتونو تر شا ددغو ازادو سیاسي څېړونکو لاس دی، کـه نه نو عام خلک څه پوهېږي چي موږ ملي ټرمینالوژي نه مراعتوو او یا مو د ژبـو تناسب ته پام نه دی کړی. موږ ددغو خلکو له انتقادونو څخه اوس هم تر پـزي راغلي یو، تاسي یې بیخي د ټلویزیون سټوډیوګانو ته راولـئ. د دې خبـري پـه اورېدو د غونډې ټولو برخه والو وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشراتي معین ډېرخړ شو، خو خبره یې بلي خوا تــه واړولــه او ویــې ویــل: وزیــر صاحب موږ خو خپل نظرونه وویل او د حل لاره مو و نه موندله، اوس نــو تاســي مهرباني وکړئ، خپل نظر مو ووایاست ! وزیر دوه درې ځله خپله ژبه ژر- ژر پــر شونډو تېره کړه، غاړي یې تازه کړې او په فاتحانه ډول یې وویل: زما په نظــر د حل لاره ډېره ساده او اسانه ده. د نورو ادارو له بریالۍ تجربې څخه موږ هم کــار اخلو او د دولتي ټیلویزیون اداره ملي کوو. یاني د دولتي ټلویزیون له نــوم ســره (ملي) کلمه تړو،چي تر دې وروسته به یې نوم (د افغانستان ملــي ټیلوېزیــون) وي، ځکه، چي ماته ولمسشر حکم کړی و چي دولتي ټلویزیون باید ملي شي.
د دې خبري په اورېدو سره د غونډې د ټولو برخه والو تندي وغوړېدل او په یوه خوله یې وویل: ډېر ښه نظر دی.
د وزیر سترګي وبرېښېدلې او زیاته یې کړه: خــو زمــوږ کــار دلتــه پــای تــه نــه رسېږي. د دې خبري په اورېدو د ټیلوېزیون رئیس په وارخطایي وپوښتل: هغه څنګه؟ وزیر مخ ته پرته سپینه پاڼه راپورته کړه، په قلم یې ژر ژر څو لیکــي پــر وکښلې او ویې ویل: یوازي د ټیلویزیون نــوم نــه، بایــد د ټیلویزیــون خپرونــې، تشکیلات او ان تعمیرونه یې هم ملي شي. له ټولوخپرونو او ادارو له نومونو سره دي د ملي کلمه ورزیاته شي. دغه ډول دي د ټلوېزیــون د تــالار، ســټوډیوګانو، ارشیف، جنرېټر، ټرانسمېټر، اشپزخانې، انتن او ټلوېزیون غونډۍ له نومونو سره هم ملي کلمه ورزیاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټلوېزيون رئيس د غوړه مالۍ په ډول خوله ويړه کړه او ويې ويل: وزير صاحب له دې نومونو سره خو مخکينيو حکومتونو اسلامي کلمه ورزياته کړې ده،اوس که يې بېرته ليرې کوو، ستونزه به راته جوړه نه شي؟

وزير په خندا وويل: ته هيڅ اندېښنه مه کوه، زما ياد دي، چې تر دې مخکې له دې نومونو سره د( خلکو) کلمه ليکل شوې وه،خو کله چې د دې شعار بازار سوړ شو، ځای يې اسلامي شعارونو ونيو. اوس زه فکر کوم، چې دغه شعار هم موږ ته نوره ګټه نه کوي، اوس ملي شعارونه ښه بازار لري. دا شعارونه که څه هم په ظاهره يو د بل ضد ښکاري، خو تر خپل منځ يو ګډ عنصر هم لري، چې هغه (ګټه) نومېږي، ياني اصلي شعار ګټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وزیر صاحب خوابښې

دا یو درې پوړیز رسټورانټ و، چې په خورا عصري ډول جوړ شوی او په لږ وخت کې یې د ډېرو خلکو پام ځانته رااړولی و. که د کوم محفل لپاره بــه ورغلــې، نــو یوه میاشت مخکې به یې لا منېجر له خلکو څخه بیانې اخیستې وې. نن هم په دغه رسټورانټ کې یو محفل جوړ و. د رســټورانټ پــر مــخ د ګلانــو او ګروپونــو لاړونه راځړېدل، شل دېرش قیمتي موټرونه ورته ولاړ ول، چې څــو وســله وال کسان یې څنګ ته داسې ببر- ببر ولاړ ول دا چې ویل مرهټــه یــې وهلــی دی. مسته موسیقي او چکچکې له رسټورانټ څخــه دبانــدې اورېــدل کېــدې. یــوه افغاني سندرغاړې د اردو ژبې دا سندره ویله: بند کمــرې مــې پیــار کرینګــې ــ پیار، پیار، پیار بې شمار کرېنګې...
د رسټورانټ د پردو شاته د انسانانو سیورې لیدل کېدل، چې د نڅا په حال کې ول. زما انډیوال ریدي راته وویل: څنګه اوس خو پوه شــوې چــې واده تــه مــې راوستلې؟ ښه غوړه ډوډۍ به وخورو، موسیقي به واورو او ځو به. خو ګوره دا یو عادي واده نه دی، دا دی خپله به یې ووینې. د رسټورانټ په دروازه کې د ریدي یو انډیوال ولاړ و، زموږ سره یې ښه تود روغبړ وکړ. که څه هم لــه ریــدي ســره بلنلیک و، خو هغه ونه کوت او موږ یې محفل ته رهنمایي کړو. ما چې شا و خوا وکتل، نو ټولو خلکو ډېرې لوکسې دریشۍ اغوستې وې، بس یوازې ما پرتوګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کميس اغوستی و، چې په دوی کې ځان ډېر اسکېرلی او خړ پړ راته ښکاره شو. ما چې څومره نور ودونه ليدلي ول، نو خامخا به کوم غريب او په جامه خوار سړی په کښې و. خو دا يو داسې محفل و چې هيڅوک هم په کښې غريب او بېوزله نه ښکارېده.

د رسټورانټ په منځ کې ټولي ستنې په هندارو پوښ شوي وې، چې ځينو ځوانانو به په تلو- تلو کې ژر- ژر د خپل سر وېښتان په کښې سم کړل. ريدي ته مې وويل چې دا د چا واده دی؟ هغه راته وويل چې زه يوازې د زوم ورور پېژنم، خو نه پوهېږم چې ولې نه ښکاري؟ خير، د واده کار دی، پيدا به شي. د دولت څو لوړپوړي چارواکي هم راغلي ول، له رئيسانو او جنرالانو نيولې، بيا تر معينانو پورې، ان دا چې يو وزير هم راغلی و. له لوړ پوړ څخه مسته موسيقي داسې په شرپ (لوړ غږ) اورېدل کېده، چې ځينو خلکو به دلته اوږې ورسره ښورولې. داسې برېښېده چې د رسټورانټ لاندينی منزل يې د نارينه وو او لوړ يې د ښځينه وو لپاره نيولی دی. ما ريدي ته وويل: فکر کوم يوازې يې د ښځو لپاره د موسيقۍ تابيا کړې ده، که څنګه؟

ــ ته هم عجيبه خبرې کوې، تا په رسټورانټ کې بې موسيقۍ واده ليدلی دی، کېدای شي هنرمندانو تفريح کړې وي.

ــ که تفريح وي خير دی، داسې نه وي چې ګردسره موسيقي نه وي.

ــ موسيقي خو خامخا شته، کېدای شي چې هنرمندان د " **آهسته برو** " لپاره د ښځو محفل ته ورغلي وي، اندېښنه مه کوه، بېرته راځي.

څنګ ته ناست يوه سړي ته مې وويل چې دا څنګه واده دی، دا موسيقي ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته؟ سړي په برېتو کي وخندل او بې ځوابه يې مخ بلي خوا ته واړاوه. دوې درې ويډيويي کمرې ګرځېدې، چي د هر مېلمه داسي دقيقه عکاسي به يې کوله، لکه د يو سند لپاره چي يې په کار وي. ما غوندي غريبانو به هڅه کوله چي د وزير، معين يا کوم جنرال څنګ ته کښېني، چي په ويډيو ټيپ کې له هغه سره راشي. لږ ګړی وروسته ډوډۍ راغله. عجيبه په لوړه سويه ډوډۍ وه، زه به نو څه درته ووايم. ما په کابل کي ډېر ودونه ليدلي ول، خو داسي ډوډۍ مي هيڅکله نه وه ليدلې. وريجي، کباب، قورمه، کوفته، سلاته، فيريني، پيپسي، مېوې او داسي نور خورا پرېمانه ول، هغه د چا خبره هر څه په چاربساخو بادېدل.

تر ډوډۍ وروسته ټول مېلمانه پر وزير صاحب راټول شول، ريدي وويل، فکر کوم چي همدا وزير به د زوم پلار وي، هغه دي خلک ورغلل، مبارکۍ ورکوي. راځه چي زه او ته هم مبارکي ورکړو، بيا به ځو. موږ لا نه وو ولاړ شوي، هغه سړي، چي ما يو ځل مخکي پوښتنه ځني کړې وه، په خندا راته وويل: اصلاً ستاسي څخه لاره ورکه شوې ده، واده په لوړ منزل کي دی. دا د وزير صاحب د خوابښي ختم و، چي نن يې د مړيني څلوېښتي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زده کوونکو ولي خندل؟

درې میاشتې کېدې چې معلم غفور معاش نه و اخیستی. په کور کې اوړه، غوړي او نور خوراکي مواد مخ پر ختمېدو ول. د کور خاوند درې ورځې مخکې ورته ویلي وو چې باید کور ژر تر ژره خالي کړي، کنه نو ګودړي به یې په کوڅه کې وروغورځوي.

له یوې خوا نرخونو له اسمان سره خبري کولې او له بلې خوا معلم غفور هم کال وچ نه تېراوه، د خدای مال اووه سر و نیم سر اولادونه یې درلودل. کله چې به یې معاش واخیست، نو هغه به ایله د کور کرایه، اوړه او داسې نوري مهمې اړتیاوې په پوره شوې. د اولادونو جامو، بوټونو او داسې نورو ته د چا پام و. د همدې غمونو او ګرومونو له لاسه د معلم غفور شونډې ترخې- ترخې چاودلې وې. کله چې به یې خوله ویړه شوه، نو له شونډو څخه به یې وینې راغلې.

نن د هغه کشرۍ زوی زلمی ناروغه و، څرنګه چې ډاکټران ناوخته روغتون ته راتلل، نو معلم غفور انتظار کاوه، چې زلمی لږ وروسته روغتون ته بوزي. خو کله چې یې د سرمعلم دا خبره په زړه کې وروګرځېده، چې نن د یوې میاشتې معاش راوړي، نو د زوی ناروغي ځني هېره شوه او بې له دې چې دریشي واغوندي، یوازي یې د یخنۍ او سړو له امله پر خوله او پزه دسمال راوپېچه او پر بایسکله د ښوونځي خوا ته روان شو. کله چې هلته ورسېد، نو ادارې ته تر تلو دمخه خبر شو، چې معاش یې نه دی راوړی. دی هم بې له دې چې ادارې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ شي، سيده ټولګي ته ولاړ او کپتان يې ولېږه چې له ادارې څخه د حاضرۍ کتاب او ترقي تعليم راوړي.

زده کوونکو چې معلم غفور وليد، نو نابېره ټول په خندا شول، ده چې هرڅومره د خندا لامل ورڅخه وپوښت، نو چا له ډاره څه ورته ونه ويل. اخر لـه ټـولګي څخه دباندې ووت، خپل کالي يې له سره تر پايه ښه وکتل، خو داسي نښه يـې په کښې ونه ليده، چې د خندا دي وړ وي. کله چې بېرته ټولګي ته ننوت، نو بيا ټول زده کوونکي په خندا شول. که څه هم معلم غفور څو زده کوونکو ته د غوږ څو کلک پېچونه ورکړل، خو هغوی بيا هـم غلـي نـه شـول، چـي پـه همـدې خنداګانو کي د تفريح زنګ هم ووهل شو.

کله چې معلم غفور ادارې ته ولاړ، نو ټول معلمين په خندا شول. يوه معلـم لـه خپله جېبه هنداره راوايسته او معلم غفور ته يې ورکړه چې خپل مخ په کښـي وګوري.

معلم غفور چې په هنداره کي وکتل، نو شونډې يې د ښځو په لب سيرين تکـي سرې وې، ځکه نن سهار د هغه مېرمنـي ورتـه ويلـي ول چـي لـب سـيرين د چاودلو شونډو لپاره ډېر ښه دی. خو د معاش په رايادېـدلو سـره د ده لـه يـاده ووته، چې بېرته يې پاک کړي او دا هغه ارزان بيه لب سيرين و چې لـه شـونډو څخه تر څلور ويشتو ساعتو مخکي نه پاکېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قيامت نښانې

دوکان له ختېو ځخه جوړ دی، ځو ځايه يې ختين پلاستر راجلا شوی او خښتې يې ښکارېږي. د دوکان په خوله کې لوی لالا او ورپسې د هغه دوه شاګردان ناست دي، د لوی لالا تر څنګ ناست دوه شاګردان په سوهان ډبري ګردې کوي، خو د دوکان په پای کې يو بل شاګرد، چې کمال نومېږي، په چايو پخولو لګيا دی. د شاګردانو عمرونه له لسو تر څوارلسو کالو پورې دي، خو لوی لالا د شپېتو کالو په عمر معلومېږي. ده تندی تريو نيولی، پر اوږده ږيره، بريتونو او بڼو يې ګردونه پراته دي، لېځي يې رانغښتي او پر مړوندونو ولاړ وېښتان يې هم له ګردونو ډک دي. کټه بيني عينکې يې پر سترګو کړي دي، د عينکو يوه پښه ماته ده او پر ځای يې کشک وراچول شوی دی، چې له همدې امله عينکې پر يوه خوا کږې شوې دي.

دلوی لالا په يوه لاس کې تار او په بل لاس کې يې د تسبو ځو دانې دي چې په تار يې پېيي. يو وار تار په نارو ښه لوند کړي، وروسته يې ښه کلک کړي او بيا يې د تسبو په دانه ننه باسي. د دوکان لرګين چت په ګردونو پټ دی، په چت کې د خزندو هم څه کمی نشته، په تېره بيا درې يا ځلورځرمښکياني خو تل د چت پر يوه تير منښتي وي.

کمال د چايو توره چايجوشه په ميدان کې کښېښووله او ويې ويل: استاده ! چايي تياري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لالا د تسبو دانې او تار په کڅوري کي چي مخ ته يې پروت و، کښېښوول او شاګردانو ته يې وويل: هلکو کار بس کړئ، راشئ چايي وڅښئ ! له دې سره سم په دوکان کي چوپه چوپتيا خپره شوه، خو کله ناکله د چايو د ځښلو سور او خوړو د ماتېدو ټکهارى اورېدل کېږي. لوی لالا عينکي له سترګو ليري کړې، ښيښې يې په لمن ورپاکي او وروسته يې مخ ته پرته د چايو پياله ورپورته کړه. يوه شاګرد کمال په ځنګل وواهه او په داسي حال کي چي د لوی لالا خوا ته يې اشاره وکړه، په ټيټ اواز وويل: ورته ووايه !

کمال زړه نه شوای کولای چي د خپل زړه خبره وکړي، خو د لوی لالا ورته پام شو. د چايو پياله يې مخ ته پر ډېرين کوچني مېز کښېښووله او ويې پوښتل: څه بنهاري مو جوړ کړی دی، سمه خبره وکړئ ! کمال، په داسي حال کي چي د شهادت په ګوته يې ځمکه ګروله، په بنده بنده ژبه وويل: استاده ! زما د شاګردۍ خو دا دی پوره يو کال تېر شو، خو په دې يوه کال کي مي له دوکان جارو کولو او چايو پخولو څخه پرته بل کار نه دی کړی، ما ويل که اوس نو د ډېرو سوري کولو کار په لاس راکړې، ځنګه به وي؟ د لوی لالا ببري وروځې راوځړېدې، کمال ته يې په ځير - ځير وکتل او په ډډ اواز يې وويل: ښه، دا خبره ده ! تر دې وروسته په دوکان کي بيا چوپتيا خپره شوه، خو لوی لالا دغه چوپتيا ماته کړه او ويې ويل: عجيبه زمانه شوه، اوس د خلکو زړه غواړي چي په دوو- درېيو کلونو کي پوره استاد شي.

تر دې وروسته لوی لالا غټه کپه نسوار خولې ته واچول او ورپسي زياته يې کړه: تاسي خواري څه ليدلې ده؟ که زموږ د وختونو ستړياوي او وهل- ټکول مو ليدلي وای، نو اوس به مو دا خبره نه وای کړې. زه د اوو کالو وم چي پلار مي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد سره شاګرد کړم، دوه کاله مي يوازي چايي پخولې او دوکـان مـي جـارو کاوه، بيا مي دوه کاله يوازي پخې خښتي سورۍ کولې چي سوري کول مي زده شي. تر څلور کاله شاګردۍ وروسته نو استاد ماته لږ لږ د ډېري ګردۍ کولو کار هم په لاس راکاوه، بيا هغه و چي په لس کاله کي مي ټول کار زده کړ. لس کاله وروسته که څه هم کار مي زده و،خو بيا مي هم جلا دوکان نه شـواى نيـولاى، همدې استاد به په اوونۍ کي يو څه جېب خرڅ راکاوه، چـي پـه دې ډول لـس کاله نور هم راباندي تېر شول. يوازي مي دا خواري نه وه، هره ورځ به مي وهل-ټکول هم خوړل. يوه ورځ استاد دغه غوږ راوپېچه، چي له بېخه لـږ راجـلا سـو. ژړلاى خو مي نه شواى، له ډاره مي خپل مور او پلار ته هم نه شواى ويـلاى. دا دى تاسي يې وګورئ ! تر اوسه يې هم ټپ پاتــه دى. لـوى لالا يـو لاس پورتـه وغورځاوه او ويې ويل: ستاسي وخت خو پاچاهي ده، پاچاهي.

تر دې وروسته لوى لالا پټه خوله شو، چي په دې وخت کي کمـال نـابېره پـه زوره ناره کړه:

هغه وګورئ ! دا څه ډول ځرمښکۍ ده؟ له دې سره سم لوى لالا او شاګردانو د دوکان چت ته وکتل. يوه شاګرد په حيرانتيا وويـل: اوهـو ! دا ځرمښـکۍ خـو سور رنګ لـري. لـوى لالا لـومړى خپلـي سـترګي سـره وموښـلې او بيـا يـې ځرمښکۍ ته وکتل. کله چي يې پر خپلو سترګو سم باور رانغى، نو مخ ته پرتې عينکي يې پر سترګو کړې، شرمښکۍ تـه يـې وکتـل او سـوکه يـې وويـل: دا ځرمښکۍ خو رښتيا هم سره ده. په دې وخت کي د سرې ځرمښکۍ تر څنګ يوه بله شيرچايي رنګه ځرمښکۍ هم راښکاره شـوه. د ځرمښـکيانو پـه بـاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لالا او شاګردانو تبصرې لا پای ته نه وې رسېدلي، چې یوه شاګرد ناره کړه:
اې هغې بلې نارنجي څرمښکۍ ته وګورئ !
شاګردان له خندا سره چاودل، خو د لوی لالا له ډاره هیچا زړه نه شوای کولای چي وخاندي. لوی لالا هري څرمښکۍ ته حیران کتـل، چــي پـه دې وخت کي کمال سوکه وپوښتل: استاده داسي څرمښکیاني دي تر اوسه لیدلي وې؟
ــنه ولا، داسي څرمښکیاني مي په ټول ژوند کي نه وې لیدلي.
بل شاګرد وپوښتل:
استاده ! څنګه د قیامت نښانې یې نه بولې؟
د لوی لالا تندی ورین شو او په خندا یې ورغبرګه کړه:
نه، بچیانو ! دا د قیامت نښانې نه، بلکي ستاسي حرامیتوب دی.
د لوی لالا خندا ټول شاګردان هک پک کړل، ځکه دا له تېرو څو کالو راهیســي د شاګردانو په مخ کي د هغه لومړۍ خندا وه. په دې وخت کي کمال شاګردانو ته په فاتحانه ډول وکتل او داسي یې وښووله چي شرط یې وګاټه.
نن کمال له شاګردانو سره شرط تړلی و، چي لوی لالا به خامخا خندوي، ځکـه یې نو درې څرمښکیاني په بېلابېلو رنګونو لړلي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د معلم خیرو قره قلي خولۍ★

داسي شپه به نه وه چي زموږ په کلي کي به چغال (سورلنډي) يو چرګ نه و خوړلی. سهار مهال چي به د کلي خلک تر لمانځه وروسته د جومات تر مخ پيتاوي ته سره راټول شول، نو خامخابه د نوروخبرو ترڅنګ د چغال په باب هم يوڅه ويل کېدل. چا به ويل: "تېره شپه بيا زموږ کور ته د ناځوانه زوی چغال راغلی و او زما پر کولنګي چرګ يې حمله وکړه. د خدای فضل و چي په کړهاري يې له خوبه راويښ شوم او د کور غولي ته راووتم. توره تياره وه او بل مي نو سترګي هم له خوبه وې، چنداني مي شی نه ليده، خو بيا مي هم دومره وکړه چي په چغال پسي مي پښې او لاسونه وټکول او په زوره مي "ها ها" وکړه. چغال هم ووېرېده، چرګ يې پرېښود او وتښتېد.

چرګ چي مي راواخيست، نو مازي غوڼاشکي يې وهلې (ساه په کښې چلېده). ما هم دغسي چړې ته لاس کړ او حلال مي کړ". بل کليوال به بيا ويل: "ياره ته خو لا ښه يې، غوښې يې په ښه درغلې، موږ بېچاره ګان وګوره، دا مو دريم چرګ دی چي چغال يې راځخه وړي، ولاکه مو يې بڼکه هم ليدلې وي". لنډه دا چي بل کليوال به هم دې ته ورته شکايت درلود.

چغالان خو په کلي کي ډېر ول، خو کورونو ته به تل يو چغال راته، ځکه نو خلکو داسي ګومان کاوه چي دا ټول چرګان به يو چغال خوري. چغالانو به د

---

★د دې طنز سوژه له يوې ولسي کيسې څخه را اخيستل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې د کلي چرګان خوړل او د ورځي له خوا به د کلي په شا و خوا باغونو کې پټ ول.

هغو باغوانانو، چي په باغونو کي به يې کار کاوه، کله چي به يې يو چغال وليد، نو لاسونه به يې سره وټکول او په زوره به يې نارې کړې، هلئ ! چغال دی، مه يې پر بېږدئ، هله پلانيه ستا خوا ته درغی راګرځوه يې چي درڅخه ولاړ نه شي !

ټولو کليوالو هڅه کوله چي چغال ونيسي او د چرګانو خوړلو غچ ځني واخلي.

يوه ورځ يوه باغوان يو چغال ونيو او هغو کليوالو ته يې راوست چي د مسجد مخ ته به يې تل له چغال څخه سر ټکاوه. د چغال په ليدو ټولو داسي ګومان وکړ چي ښايي دا هماغه چغال وي چي د شپې زموږ چرګان خوري. يوه کليوال وويل: "راځئ د کلي ټول سپي راولو او ورخوشي يې کړو چي ځای پر ځای يې انډياري- انډياري او سره څيري کړي". بل کليوال وويل: " يو ځای يې وتړئ او دخوراک شی مه ورکوئ چي له لوږي مړ شي".

لنډه دا چي د چغال د سزا په اړه ډول- ډول لاري او ليکي وړاندي شوې. په دې وخت کي "معلم خيرو" چي پر يوه زاړه بايسکل سپور، پينه کړی پتلون يې اغوستی او يوه شوړېدلې د قره قل خولۍ يې پر سر وه، راښکاره شو. د معلم خيرو په ليدو ټولوکليوالو ناره کړه: "هغه دی معلم صاحب راغی. راځئ دی هم وپوښتو چي چغال ته څه ډول سزا ورکوي؟ معلم خيرو ساه په اوږو شړله او داسي ښکارېده چي ډېر ستړی او خورا له ليري ځايه راغلی دی. معلم خيرو يوه شېبه لګيا و او خپل "سهراب" بايسکل يې يوه دېوال ته تکيه کړ. تر روغبړ وروسته کليوالو د چغال کيسه ورته وکړه. معلم خيرو هم سمدلاسه خپله د قره قل خولۍ له سر څخه ليري کړه، يو ځل يې د چغال پر سر ورکښېښووله او بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ببړته خپله پر سر کړه. بيا يې پړی د چغال پر غاړه ورواچاوه او خوشـي يـې کړ.

په دې وخت کې خلکو شور او غالمغال جوړ کړ چې معلم صاحب د خدای لپاره دا دې څه وکړل؟ زموږ نهه منه اوړه دې را يوه پتيره کړل. موږ دا چغال په څـه تکليفونو او خواريو نيولی و او تا ببړته روغ رمټ پرېښود؟ معلم خيرو وويـل: "د ده لپاره تر دې بله لويه سزا نشته چې د معلم خولۍ يې پر سر شوه. دا چغال به په ټول ژوند کې د روزۍ خاوند نه شي. تر دې وروسته چې چرګان ګردسره په غاړه وروځړوې، نو هم به د ده په نصيب کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خپل ټول ژوند کې دومره نه وم وېرېدلی

دا مي لومړی وار و، چي کابل ته تلم. نه مي موډ د کابل پر موډ برابر و او نه په پارسو ژبه پوهېدم. بس لکه "شادګل" په ښار کي مي یوې او بلي خوا ته هېښ پېښ کتل. اخر راغلم په "ده افغانانو" کي مي په یوه هوټل کي کوټه ونیوله. کوټه د هوټل په درېیم پوړ کي وه، چي خورا کږې وږې او نری زینې ورختلي وې.

یوه ورځ په زینو کي کښته کېدم، پام مي نه و، چي له یوه ځوان سره مي اوږه ولګېده. له دې سره سم ځوان له خولې څخه لاس واخیست او ښکنځل یې شروع کړل، په نورو خبرو یې پوه نه شوم، خو دا یوه خبره مي یې په یاد ده چي ویل یې: او دهاتي او خر! انسان واري راه برو! زه هېښ پاته شوم، چي دی خو خوږ شوی هم نه دی، دومره بد- رد ولي وایي؟ ما چي هر څه په ارامۍ قانع کاوه، خو دی د دې پر ځای چي خوله ونیسي، لا یې زور اخیست. نه پوهېږم چي زما په ژبه نه پوهېده او که یې هسي جګړې ته هوا شوې وه. ځوان ښه لوکسه دریشي اغوستې وه، ښه خوشبویي یې ولاړېده، بوټونه یې تازه رنګ کړي ول او د سر وېښتان یې د (تېرې نام) پر موډ جوړ کړي ول، له ظاهري بڼې خورا مهذب او لوستی ښکارېده، ما هیله نه درلوده چي داسي د کوڅې ښکنځل به وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کليوال سړی يم، بر ېتونه مــي ډېرخوښــېږي. د کابــل پــه اړه مــي دا لنــډۍ اوربدلې وه چي: (کابل ته مه وايه چــي وران شــې ــ پــه کښــي پراتــه دي ښــه ځوانان کاږه بر ېتونه). خدای خبر چي دا لنډۍ به د څه مهال وي، خو ما داسي فکر کاوه چي د کابل ځوانان به اوس هم کاږه کاږه او چنګ چنګ بر ېتونه لري، مګر دې ځوان ته چي مي وکتل، بر ېتونــه يــې داســي پــاک خرولــي ول، لکــه شکولي چي يې وي. دی په ونه لوړ او ښه غښتلی ښکارېده، خو زما چندان پړی (جسامت) نه و او بل نو مسافر سړی وم، له جګړې به مي څــه غوښــتل، خــو دا چي د ده ښکنځل ډېر شول، نو زما زغم هم ختم شو او لاس مو سره واچــاوه. دا چي زه په لوړه او دی په کښته زينه کي ولاړ و، نو زما له خوا پــه يــوې کــوچنۍ ټېله په زينو کي ولوېد او کالي او وېښتان يې په خاورو ککړ شول. ځوان له دردە سور او شين واوښت او له زينو څخه د کاراټه باز په ډول په يوه ټوپ راپورته شو، له راپورته کېدو سره سم يې جېب ته لاس کړ.

که رښتيا ووايم، نو له وارخطايۍ څخه مي په بدن کي وينه وچه شوه. مــا ويــل ياخدايه ! ته مي ساتندويه شي. په زړه کي مي ويل چي اوس به له جېبه چاړه، تفنګچه او که به بله خطرناکه وسله راوباسي. زه په دې خاطر هم وانښ او غوزی (وارخطا) شوم، چي يو خو کمزوری او بل نو تش لاس وم. بيا مــي وويــل چــي اوس خو خدای راوستلې ده، هر څه چي پېښېږي. بس ځان مي دفاع ته چمتو کړ، خپل پټو مي سره ومروړه، ما ويل که د چړې وار يې راباندي کاوه، نو پټو يې يوڅه مخه نيولای شي اوکه تفنګچه وه، نو توکل مــي پــر خــدای دی. پــه دې وخت کي مي وليده، چي ځوان له جېب څخه يو شی راوايست، چي د خرمنــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوښ کي نغښتی و. که رښتيا ووايـم، نـو د بـدن وېښــتان مــي جــګ جــګ ودرېدل. ټول پيران او وليان مي راوننګول، بس يوازي مي دې ته انتظار کــاوه، چي کله به مي د تفنګچې مرمۍ په ځيګر کي ولګېږي. بس نو اجــل مــي نــه و راغلی، خدای وساتلم؛ ځوان د ځرمني له پوښ څخه هنداره او ږمنځ راوايســتل او ژر- ژر يې د خپل سر د وېښتانو په ږمنځولو پيل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترافیک کاکا ! وګوره موږ دلته پټ یو

موټر په ډېـري چټکـۍ سـره روان و او خـورا ډېـره سـپرلي یـې اخیسـتې وه، ځوکیاني، د ځوکیانو تر منځ کوځه او چت یې ټول ډک و. دا خو لا څـه چـي د موټر په زینو او شا و خوا پوري یې هم ډېر خلک ځړېدل. موټر چي به پـر کـوم تمځای ودرېد، نو یوې ډلي خلکو به وروځغاستل او موټر به یې له ټایرونو څخـه بیا تر چت پوري داسي پټ کړ، چي یوازي به د خلکو یوه ډله ترسـترګو کېـده. که څه هم پر ټوله موټر باندي دومره خالي ځای نه و چي چا دي لاس ورپـوري نیولی وای، خو بیا چي به هم کلینر د سړک پر غاړه ځوک ولید، نو بـې واره بـه یې ناري کړې: "ښار والا، ښاروالا، هلئ وخېژئ، ټولي ځوکیاني خالي دي". پـه موټر کي دننه هم دومره ځای نه و، چي سړي دي پښه اېښي وای. په موټر کي پر انسانانو سربېره وزې، پسونه او چرګان هم ول. د موټر په شا کي چي ځوکۍ یې ځیني لیري کړي وې، د شلومبو غړکي پرتې وې، چي یو څو سـپین سـري ښځي یې څنګ ته ناستي او په تور پړوني کي یې یوه یوه سترګه ښـکاره کـړې وه. کله چي به موټر پر یوه کنده یا پوټکي (جمپ( ورغی، نو د انسـانانو د فضـل خدایه، د پسونو او وزو امبا امبا او چرګانو کړهاری به ګډ واوربدل شو. ورسره به د غړکو چړپ و چړوپ هم تر غوږ شو.

په دغه اشپیر (غالمغال) کي مي د ملک سالو اکا غږ وپېژانده، چي کلینر ته یـې ویل: "دا به زما سره ښېخي وړ نه وي، چي په دې سپینه ږیره او ږېږدېدلو لاسـو چت ته وخېژم. یوځوان راولاړ کړه او چت ته یې وخېژوه. کلېنـر ورتـه وویـل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا بېخي ډېري خبري زده دي. دومره چي ځان دربانديي ګران دی، نو يو شخصي موټر واخله. ځه ژر وخېژه چي ناوخته دی !". خو ملک اکا بيا زاری او جګی ورته شروع کړې، چي مه کوه په چت کي ډېر ساړه دي، ناروغه کېږم.
ملک کاکا خپله ږيره په مټ کي ونيوله او کلينر ته يې د پټکې په ډول وويل: "ګورئ ارمان به وکړئ ! هو ! قسم په خدای چي ارمان وکړئ !". کلينر په خندا وويل: " بوډا سړی يې، بېله دغو باټو نو ستا نور څه په وسه پوره دي ! کلينر له دې سره سم پر موټروان غږ کړه چي ځه له خيره ! ملک کاکا له ناچاريه د موټر د شا په زينو پوري وخږېده، دوو کلينرانو ورباندي حمله کړه او د غوټي په شان يې د موټرچت ته وروغورځاوه. د ملک کاکا د خبرو دا اخري جمله مي تر غوږ شوه: "خير دی، په ښار کي به يې سره ګورو !". موټر خورا په چټکی سره روان و، ځکه چي اوس له هغو تمځايونو څخه تېر شوی و، چي معمولاً به هلته د موټر لپاره خلک درېدل. دا چي لاره اوږده وه، نو ځينو سپرليو ته خوب ورغلی و او ځينو بيا نسوار کړي او سرونه يې کښته ځړولي ول. په دې وخت کي کلينر ناڅاپه پر موټروان غږ کړه: صبر وکړه استاده سواري دی !
له دې سره سم موټروان بريک ته پښه ورکړه او درز شو، موټر ودرېد. د چا لنګوټه په غاړه کي راولوېده او د چا بيا تندی د موټر له مخامخ سيټ سره ولګېد. ټولو په ډېري وارخطايی سرونه جګ- جګ ونيول او په موټر کي د فضل خدايه ! فضل خدايه ! ناري شروع شوې.
موټروان کلينر ته وويل چي سپرلی کومه ده؟ کلينر د سړک پرغاړه د جوارو ځمکي ته اشاره وکړه او ويې ويل: هغه سړی نه وينې چي په جوارو کي ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او موږ ته لاس ښوروي. له دې سره سم موټروان او سپرليو په ګډه د هغه سرې خوا ته سترګې واړولې. سړی ځای پر ځای ولاړ و او يوازې يې د موټر خوا ته لاسونه ښورول. اخر کلينر له موټره ورکښته شو، ګوري چې په جوارو کې يو خر ولاړ دی، په جوارو يې ښه ځان موړ کړی او د غوږو په ښورولوسره له ځانه مچان شړي.

موټروان او ځينو سپين ږيرو کلينر ته ښکنځل شروع کړه او موټر بېرته د ښار پر خوا روان شو. کله چې ښار ته نژدې شو، نوکلينرانو د چت پر سپرليو ناري کړې: هلئ ټول پر ېوزئ، چې ټرافيک مو ونه ويني، که يې وليدلاست، بيا موږ جريمه کوي. کلينرانو ملک کاکا او نور سپرلي د موټر په چت کې د پسو په شان سره واوډل او پرې يې ايستل. کله چې موټر هغي ځلورلاري ته ورسېده، چې هلته به اکثره وخت د ټرافيکي پوليسو مدير په خپله ولاړ و، نو ملک کاکا د موټر له چت څخه سر راپورته کړ او په خندا يې د ټرافيکي پوليسو مدير ته داسي ورغږ کړه: "ټرافيک کاکا **!** **آ** ټرافيک کاکا **!** ماته وګوره، دا دی زه دلته يم. يوازې زه نه يم، موږ لس- پنځلس کسان دلته د موټر په چت کې پټ يو **!**".

د ملک کاکا له خبرو سره سم نورو سپرليو هم سرونه راپورته کړل. د مدير چې ورته پام شو، نو په ډېر درد يې موټر ودراوه او پر موټروان يې سترګې راغټې کړې. څو د غوږ پېچونه يې ورکړل اوبيا يې د جريمې پارچه ورکړه. په دې وخت کې موټروان او کلينرانو په ګډه پر ملک کاکا مخ راواړاوه او ويې ويل: ملک کاکا ولې؟ خدای دي خوار کړه، څوک داسې کوي؟ په لوی لاس دي دومره تاوان راورساوه **!** ملک کاکا ورته وويل: خدای دي تاسي خوار کړي چې نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين ږيري مخ ګورئ او نه د معذوره، دغسي درسره ښايي. نه مي درته وويـل چي ما چت ته مه خېژوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واه واه، ډيموکراسي !

رئيس عبدالله خان په خپلو ټولو رسمي چارو کي خورا جدي او ديکتاتور و چي هيڅ هم سر نه شواى ځني پورته کولاى. دى په عمر پوخ، په ونه لـوړ او خــورا غټ بر ېتونه يې درلودل. کله چي به ډېر درد ورغى، نو يو بر ېت به يې ښــور ېده. د خطر له دې زنګ سره د نوموړي رياست ټول کـارکوونکي بلـد ول. پـر دغـه مهال به هر چا هڅه کوله چي ځان ورسره مخامخ نه کړي، په تېره بيـا د دفتـر چپړاسيان، څوکيداران، موټروانان او اشپزان خـو بـه لـه ډاره لکـه پانـه داسـي ر ېږد ېدل. عبدالله خان د موډ او فېشن هم خورا شوقي و. کله چي بـه بـازار تـه نوې دريشي او يا نوى ماډل بوټ راغى، نو ده بـه خامخـا رانيـوه. ده سـينګار او فېشن د ډيموکراسۍ يوه نه بېلېدونکې برخه ګڼله او کلـه چـي بـه بـازار تـه د فېشن يو نوى شى راغى، نو بـې واره بـه يـې دا خبـره تـر خولـه ووتـه: واه واه ډيموکراسي !

ده د مژګان په نوم يوه سکرټره هم درلوده چي له سينګار سره يې خـورا جـوړه وه. ان دا چي کله به يې يو ګيلاس چاى او يا اوبه هم وڅښلې، نو ژر به تشـناب ته ولاړه او د خپلو شونډو رنګ (لب سيرين) به يې تازه کړ او اکثره وخت به يـې اناري رنګ لب سيرين استعمالاوه. که څه هم په نوموړي رياست کي نورو ښځو هم کار کاوه، خو د مژګان په شان يې په ځان ګوته نه وهله، ياني خپل سـينګار ته يې دومره ډېره پاملرنه نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ په دغه رياست کي بېړنۍ غونډه رابلل شوې وه. عبدالله خان لـه مـوډه سره سمه او نوې دريشي اغوستې او د غونډې تالار ته راغی. د ده له راتګ سره سم د غونډې ټولو برخه والو په برېتوکي وخندل. که څـه هـم لـه خنـدا سـره چاودل، خو له ډاره هيڅا هم زړه نه شوای کولای چي په زوره وخاندي. عبدالله خان څو واره له هغوی څخه د خندا علت وپوښت، خو هيڅا هم ورته ونـه ويـل چي دوی ولي خاندي؟ اخر عبدالله خان دومره پوه شو چي خبره په ده کي ده. تندی يې تريو شو، غونډه يې د پنځو دقيقو لپاره وځنډوله او لـه تـالاره راووت. خپل د کار دفتر ته راغی او بوټونه، پتلون، کورتۍ، کميس او نېکټايي يې ښه په ځير سره وکتل، بيا يې له ځان سره وويـل: ”عجبـه ده، زه نـه پـوهېږم چـي دا خلک ولي خاندي؟ په ما کي خو داسي څه نشـته، چـي د خنـدا دي وړ وي. دا خلک لېوني شوي دي، که څنګه چي بې ځايه خاندي؟“. لـه دې سـره سـم د تشناب خوا ته روان شو، هلته چي ورسېد، نو هينداري ته ودرېـد. ګـوري چـي سپين برېتونه يې په لب سيرين سره دي. ژر- ژر يې خپل برېتونه پاک کړل او په داسي حال کي چي له دردە يې يو برېت ښورېده، له تشـنابه راووت. پـه دې وخت کي مژګان په ټيليفون کي له يو چا سـره خبـري کـولې. کلـه چـي يـې عبدالله خان وليد چي درد ورغلی دی، نو له ډېري وېري يې د ټيليفون غـوږۍ (ګوشکه) له لاسه ولوېده، په ډېري عاجزۍ د مېز ترڅنګ ودرېده او ويې ويل: رئيس صاحب ډېر وبخښئ ! ما فکر کاوه چي تاسي به پـه غونـډه کـي تشـريف لرئ. عبدالله خان وويل : نه خير دی پروا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله خان پر خپله څوکۍ کښېناست او د ټيليفون غوږۍ يې راپورته کړه چې پر ټيليفون يې سمه کښېږدي. په دې وخت کې يې پام شو چې د ټيليفون غوږۍ هم په لب سيرين سره ده. عبدالله خان لومړۍ د غوږۍ لب سيرين او بيا مژګان ته په ځير - ځير وکتل او هغې ته يې داسي وښووله چې زما بر ېتونه هم د ټيليفون په ګوشکه سره شوي دي. په دې وخت کې بيا د عبدالله خان يو بر ېت په ښور ېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یاره افرین ! دې ته نو مړی وايي

د غونډې وياند دريځ (سټيج) ته راپورته شو، غاړې يې تازه کړې او ويـې ويـل: درنوحاضرينو، اغلو او ښاغلو ! د غونډې مشر مېلمـه، وزيـر صـاحب، د ولسـي جرګې غړيو، د بهرنيو هېوادونو سفيرانو، ژورناليستانو، فرهنګيانو او نـورو درنـو مېلمنو ته د زړه له کومي ښه راغلاست وايم. ستاسو ټولو څخه د زړه له کـومي مننه کوو، چې زموږ د اخبار په لومړۍ کليزه کي مـو برخـه واخيسـته. اوس دا دی د پروګرام په دې برخه کي د اخبار مسوول چلوونکي ته بلنـه ورکـوو چـې سټيج ته تشريف راوړي او تاسي ته خپله عالمانه وينا واوروي.

د اخبار مسوول چلوونکي، چې په تالار کي د خلکو پـه درنـو چکچکـو بدرګـه کېده، خپلي خبري داسي پيل کړې: "زه نن دومره خوشاله يم چې تاسـي تـه يې نه شم بيانولای، نه پوهېږم چې خپلي خبري له کومه ځايه راپيل کړم؟. لـه څه مهاله راهيسي چې زموږ امنيتي ځواکونه افغانستان ته راغلـي، ګـڼ شـمېر لاسته راوړني او برياوي مو درلودلي دي چې يوه بريا يې همدا اخبار دی. پروسږ کال، همدا نن ورځ چې موږ د اخبار لومړۍ ګڼه چاپ کړه، نو پـه خـوا او خـاطر کي مو نه وه، چې موږ به په لنډ وخت کي دومره اوږده لار ووهو. نن مـوږ ويـاړو چې زموږ اخبار د افغانستان په هر ګوټ او هره سيمه کي لوستونکي لري.

موږ د تېر يوه کال په بهير کي له خپلو درنو لوستونکو څخـه (۱۰۰۰) ليکونـه، (۳۰۰) ټيليفونونـه او (۵۰۰) بريښـناليکونه ترلاسـه کـړي دي. د دغـو ټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو ګډه غوښتنه دا وه چي د اخبار د چاپ شمېر دې ډېر شي، چـي مـوږ هم د دوی له غوښتنو سره سم د خپل اخبار د چاپ شمېر لس برابره ډېـر کـړ. تاسي د ستېج تر څنګ زموږ څلور تنه درانه مېلمانه ګورئ، دوی نـه یـوازي دا چي زموږ د اخبار دايمي لوستونکي دي، بلکي همدا د دوی برکت دی چي نـن موږ په هیواد کي دومره ډېر لوستونکي لرو. موږ خپل اخبار دوی ته لېږو او بیـا يې دوی پر خلکو وېشي، دا چي افغانان ډېر بې وزله دي، نو مـوږ هـم دوی تـه اخبار وړیا ورکوو. دا چي زموږ د لوستونکو د لیکونو، ټیلیفونونو او بریښنالیکونو ډېره برخه په نوموړو مېلمنو پوري اړه لري، نو مـوږ هـم دوی هـر يـوه تـه يـوه جایزه، چي یوه یوه جوړه دریشي او زر ډالره دي، په پام کي نیولي دي. هیله ده چي دوی زموږ دغه کوچنۍ تحفه ومني. اوس له محترم وزیـر صـاحب څخـه هیله کېږي چي زموږ درنو مېلمنو ته جایزې ورکړي".

وزیر، چي د غونډې برخه والو ورته تودې چکچکي کولې او د کوچنیو هلکانو او نجونو یوه ګروپ پر جایزه ګټونکو بانـدي ګـلان شـیندل، مېلمنـو تـه جـایزې ورکړې. تر دې وروسته د غونډې ویاند لـه یـوه مېلمـه څخـه، چـي لالـو مامـا نومېده، وغوښتل چي د نورو مېلمنو په استازیتوب د اخبـار پـر محتـوا خبـري وکړي.

لالو ماما، چي غوړکالي يې اغوستي وه، دریځ تـه راولاړ شـو، د ښـي لاس دوې ګوتي يې په ږیره کي راتېري کړې او خپلي خبري يې داسي پیل کړې:

"زه نن سهار دوکان ته ولاړم، چي ټیلیفون راغی ویل د اخبار دفتـر تـه راشـه، جایزه درته راوتلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خبر نه وم چې په يو داسي لوکس هوټل کي به غونډه وي او دومره لوی خلک به په کښې وي، کنه نو ما به د کارکالي تبديل کړي وای. تر دې خبري پوري زما يوه کيسه رایاده شوه. وايي چي يوه ډاکټر ناروغ ته خورا ډېره دوا ورکړه او ښه غوښن فيس يې هم څني واخيست، بس نور يې څه کوې چي د ناروغ کور يې پر چرګه ورباركړ. ناروغ چي يو د پيسو له خوا تاواني شوی و او بل ناروغۍ هم وار خطا کړی و، ورو وويل: ډاکټر صاحب ! ايا دا درمل به ګټه راته وکړي؟ ډاکټر چي د فيس پيسې په جېب کي اچولي وې، په خندا وويل: ياره ماته خو يې همدا اوس لا ډېره ګټه وکړه، خو ستا په باب نو نه پوهېږم چي ګټه به درته وکړي کنه؟. نو دا چي دا اخبار به د شتمنو خلکو لپاره څومره ګټور وي، زه نه پوهېږم، خو زما لپاره ډېر ګټور دی، دومره ګټور چي زما ګټه يې دوه برابره کړې ده او نننۍ جايزه خو لا هلته پرېږده. يوه بله کيسه مي هم راپه ياد شوه، يو وخت يو لوی خان مړ شوی و، چي په اسقاط کي يې غريبانو ته خورا ډېري پيسې ورسېدې. په لاره کي يو طالب چي شاعر هم و، د پنځو سوو افغانيو لوټ (نوټ) راښکاره کړ، ويل دا دی وګوره ! "هر سړی هم پښې اوږدې کاندي وای مړ يم_ جار قربان شم د حاجي صاحب له مړي". نور خلک هم وايي چي موږ اخبار چلوو، اخبار خو دې ته وايي چي خلکو ته ډوډۍ ورکړي.

د لالو ماما د خبرو وروستۍ جمله له ټولو چکچکو سره مل شوه. د اخبار مسوول چلوونکي، چي په سره مخ کي يې شنې سترګي برېښېدلې،په خندا وويل: که مهرباني وکړئ د اخبار د محتوا په باب لږ تبصره وکړئ او دا هم ووایاست چي دې اخبار څنګه ستاسي عايدات دوه برابره کړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسئول چلوونکي خبري لالو ماما ته وژباړل شوې. لالو ماما يوه شېبه غلی و، بيا يې د ښي لاس دوې ګوتي په ږيره کي راتېري کړې، څټ يې وګراوه او ويې ويل: ياره زه خو سواد نه لرم، چي د اخبار په باره کي خبري وکړم، په دې چـي زما له دې خبرو سره ګردسره کار نشته او که ايمان په ترخه کي کښې نه ږدم او رښتيا ووايم، نو زه د جلبيو والا مشر يم، دغه بل مېلمــه د نانوايــانو مشــر دی او دغه نور دوه مېلمانه د کباب او پېره کيو والا مشران دي. موږ به پخوا په کاغذي او پلاستيکي کڅوړو کي خلکو ته جلبۍ، کبــاب، ډوډۍ او پېــره کــي ورکــول. تاسي ته خو معلومه ده چي اوس ډېره ګراني ده، په هيڅ شي خولــه نــه پــوري کېږي، کار و بار هم په ټپه ولاړ دی، يوه افغانۍ تر سل منه ډېره لاندي ده، خـو اوس چي دغه اخبار چاپېږي، موږ هم جلبۍ په دغه اخبار کي نغاړو او خلکو ته يې ورکوو، نو په دې ډول د کڅوړو پيسې راپاته کېږي. د دې اخبار يوه ښېګڼه دا ده چي ښه غټ او پاڼې يې هم ډېري دي، يوه ګڼه يې د څو کېلو جلبيو لپاره بس ده؛ کاغذ يې هم ښه پنډ دی، غوړي نه ورڅخه څڅېږي او چاپ يې هم ډېر ښه دی، رنګ نه بايلي. زه په پای کي د دې اخبار اداري ته دا وړانديز کوم چــي د اخبار شمېر دي دوه برابره نور هم ډېر کړي، ځکه چي پرون زما دوکان تــه د جلبيو رانيو لپاره، د لندې مېوې د سوداګرو مشر راغلی و، ويل هغه مېوه، چــي موږ يې بهرنيو هېوادونو ته لېږو، غواړو چي په کرېټونو او صندوقونو کي يې دغه اخبار اوارکړو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**